دقانون په تطبیق کي مساوات

حضرت عبادة بن صامت رضي الله عنه وايي: دالله رسول صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي:« په خپلو اوپه پرديو باندي يو شانته حد جاري ګړي. او دالله تعالي په کار کي دهيچا دملامتي پروا مه کوي. »

(رواه ابن ماجه - مشکوة)

شریعت

اونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریك نشراتی ارګان

پرده چهره ضروری است

خداوند متعال مي فرمايد:« اي پيغمبر بگو بزنان خود ودختران خود وزنان مسلمانان كه فروگذارند برخود چيزى از چادرهاى خود.

ترجمه:(الاحزاب- :٥٩)

لومړی کال | دوخلوېښتمه ګڼه | دوشنبه د١٣٧٥ هـ ش کال دميزان دمياشتي (٣٠) | د١٩٩٦ميلادي کال اکتوبر (٢١) | د١٤١٧هـ ق کال جمادي الثانی (١٩)

دکابل ښاریانو د مظاهری او غونډی په لړ کی:

نړیوال دی زموږ اسلامی دولت په رسمیت وپیژنی

ګاونډی هیوادونه دی دنړیوالو اصولو له مخی دافغانستان له اسلامی دولت سره چلند وکړی

موږ دکابل ښاریان دطالبانو د اسلامی تحریك اواسلامی دولت ملاتړ کوو

دکابل ښاریانو دیو مارش اوغونډو په ترڅ کی دافغانستان په کورنیو چارو کی دمعلوم الحالو هیوادونو لاس وهنی محکومی کړی، دملګرو ملتونو له مؤسسی نه ئی وغوښتل چی په دی مؤسسه کی دافغانستان څوکی دافغانستان اسلامی دولت ته چی دافغانستان دملت داکثریت نماینده دی وسپاری. مارش کوونکو چی دینی طالبان، سپین ږیری، لویان، ځوانان اوکوچنیان پکی وی په داسی حال کی چی د موټر دواحد افغانستان غوښتونکی یو، دافغانستان ټول ملیتونه سره وروڼه دی، موږ دمحمدی غرا شریعت په تطبیق اودمسلمانو خویندو له خوا د حجاب د رعایت ملاتړ کوو، نړیوال دی زموږ اسلامی (٤)مخ

محترم ملا امیرخان «متقی» دریك کنفرانس خبری گفت:

نیروهای اردو اسلامی افغانستان به هیچ نیروی خارجی اجازه نخواهد داد که در امور داخلی افغانستان مداخله نمایند

محترم ملا امیرخان متقی سرپرست وزارت اطلاعات وکلتور دریك کنفرانس خبری مداخلات خارجی را در امور افغانستان تقبیح نموده موصوف که درجمع خبرنگاران داخلی وخارجی سخن میگفت چنین اظهار داشتند:

نیروهای اردوی اسلامی افغانستان به هیچ نیروی خارجی اجازه نخواهد داد که در امور داخلی افغانستان مداخله نمایند. محترم امیر خان متقی پیرامون مسایل مربوط به اوضاع داخلی وخارجی گفت که موضوع حکومت ودولت اسلامی افغانستان مشخص گردیده همچنان موصوف عدم شناسایی یکتعداد کشور ها را عمل مغرضانه ودور از حقیقت دانسته وتعدادی از کشور هائیکه درخصوص آبادی مجدد افغانستان وعده سپرده اند ابراز قدردانی نمودند.

ربانی دتاجکستان له مجاهدینو سره دښمنی پیل کړه

ربانی په دی ورځو کښی دهغو تاجکو مجاهدینو سره خپله کرکه اودښمنی څرګنده کړه چی دتاجکستان د روس پلوه حکومت په خلاف خپل جهاد کوی. ربانی دا کار ځکه وکړ ترڅو دتاجکستان د روس پلوه حکومت مرسته دطالبانو داسلامی تحریك په خلاف ترلاسه کړی.

خبرځای وایی چی دربانی یوه سیمه ایز قوماندان نجم الدین «واثق» پسه دی ورځو کښی تاجکستان ته د (٤)مخ

دتحریك اسلامي طالبان خواهان ترك جنگ، تأمین صلح سرتاسري واستقرار نظام اسلامي در کشور میبا شد

شیر محمد عباس «ستانکزی»

سرپرست ومعاون وزارت خارجه محترم شیرمحمد ستانکزي در مقر وزارت خارجه در یك کنفرانس مطبوعاتي که درآن ژورنالستان داخلي وخارجي شرکت داشتند گفتند: تحریك اسلامي طالبان خواهان ترك جنگ، تأمین صلح سرتاسري واستقرار (٤)مخ

دکونړ دغونډي په لړ کي:

په هر هیواد اوسیمه کی امنیت اواستقرار دترقی اوپرمختګ لپاره لومړی شرط دی

دکونړ والي مولوي عبدالهادي

دطالبانو اسلامی تحریك په هیواد کی امن اواستقرار راوست

مولوي سمیع الله

دکونړ اوپیچ مسلمان خلك دطالبانو داسلامی پروګرامونو ملاتړ کوی

مولوي عبدالسلام

دکونړ ولایت له مرکز اسعدآباد څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دتیری شنبی په ورځ دمیزان په ٢٤ نیټه دهغه ولایت دمرکز دمحمدیه لیسی په انګړکی دکونړ (٤)مخ

پنځ تن قوماندان حکمتیار وربانی در ولسوالي جغتو به تحریك اسلامي پیوستند

خبرنگار ما از ولایت وردك خبر میدهد که درین اواخر در ولسوالي جغتو آن ولایت پنج نفر قوماندانان هریك قوماندان لاهور خان، قوماندان کفیل، قوماندان حسن خان، قوماندان داود وقوماندان محمد گل که مربوط حکمتیار وربانی بودند با دراك مسئولیت دینی ووطنی همکاری خود را باتحریك اسلامی اعلان نمودند.

خبرنگار ماسپافزاید آنها با اداره مخلوع اسبق کابل مخالفت ورزیده واعلان داشتند که بعدازین تا آخرین رمق زندگی در راه خدمت به دین ووطن درپهلوی مجاهدین تحریك اسلامی جدوجهد خود را دوام میدهند.

مسئولین تحریك اسلامی ازین اقدام نیك واسلامی آنها خیر مقدم گفته وآنها را درآغوش خود جای دادند.

په خوګیانو کي دطالبانو په ملاتړ ددرندي غونډي په لړکي:

دهرباطل، هر منکر اوهرلاروړکي پر وړاندي جهاد روا او داسلام ددین د روښانه ساتلو د پاره غوره عمل دي

د ننګرهار والي محترم مولوي عبد الکبیر

علماء کرامو ته په مراث پاته دی چي ددین اشاعت وکړي، دین ورسوي، له باطل سره مقابله، مجادله اوجهاد وکړي

دپکتیکا والي محترم عبدالباقي «حقاني»

دهیواد اسلامي اداره دخپلو هیوادوالو مرستو ته ضرورت لری

دننګرهار دمحاکماتو رئیس مولوي محمد یوسف صاحب

موږ په داسلام په اصولو کي دننه دخپل اسلامي دولت هر ډول مرسته کوو

دخوګیانیو مشران اوقوماندانان

دطالبانو پرلاس دنجیب اعدام یو پرځای عمل دي او دده پر اعدام زموږ دمجاهد ملت دلکونو شهیدانو حق پرځای شو

مولوی عبدالستار

... نو موږ اوتاسو ته پکار دي چي له خپلو طالبانو سره په ټولو برنامو کي بشپړه مرسته وکړو

قاضي هدایت

زموږ ځانګړي خبریال دننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالي (کړي) څخه خبر راکوي چي دروان هجري لمریز کال دتلی دمیاشتي په ٢٥مه نیټه د (کړي) دبازار په جامع جومات داکړي) ولسوال محترم ملا عجب ګل تر سرپرستي اودمولوي صاحب وزیر محمد(حنبلی) تر نظامت لاندي دخوګیانو مسلمانو، مجاهدو، دینداروا او با (٤)مخ

دننګرهار داچین په ولسوالي کی زړه بدی اوازه شوه

(٤)مخ

دجمعیت العلماء اسلام امیر مولانان فضل الرحمن بوي درندي غونډي ته په خطاب کي:

کله چي افغانان له جهادي تنظیمونو اوقوماندانانو نه پوزي ته راغلل نو دطالبانو تحریك راپورته شو

جمعیت العلماي اسلام دطالبانو داسلامي تحریك اوپه افغانستان کي دموجوده اسلامي حکومت ټینګه مرسته کوي

روس، هند اوایران دافغانستان درایرزیدلي اداري بلویان دي چي دا دهغوي په کورنیو چاروکي سخته لاس وهنه ده

دجمعیت العلماء اسلام امیر محترم مولانا فضل الرحمن دپېښور په قصه خواني کي دتیری جمعي په ورځ یوي ستري اوپرتمیني غونډي ته په خطاب کي وویل: په افغانستان په تیره بیا په کابل کي دطالبانو داسلامي تحریك وروستي بریالیتوبونه (٤)مخ

په المان کښي میشته افغانانو دطالبانو په طرفداري مظاهره وکړه

مظاهره کوونکو روس، ایران، هند په مداخله تورن، او دشمال ترون وغانده

د وارسیدلي خبرپه حواله لیکو چي په المان کي میشته افغانانو دمظاهري په لړ کي وویل: چي روسانو ١٠ کاله زموږ دهیوادوالو وینه وبیه وله اوس لا بیا هم غواړي چي دوي دخپلو ګوداګیانو ته مالي اونظامي (٤)مخ

سرمقاله

داسلامی حکومت دپاره سیکولرستانو ته سره مل شی

په افغانستان کی دطالبانو داسلامی تحریك د باایمانه مجاهدینو زړورو اومؤمنانه بریالیتوبونو داستعماری حلقو اسلام ضد دسیسی او پروګرامونه له خطر سره مخامخ کړی اودافغانی مزدورو سیکولریستانو هغه توطئی چی داسلامی جهاد دختمولو اودیوه غیر اسلامی حکومت د رامنځ ته کولو په منظور یی په داخل کی دالحادی خرڅ شوو منحرفو قوتونو په ټینګولو اوپه بهر کی دارتجاعی بی دینو او لادینو عناصرو په راژوندی کولو اومطرح کولو سره کولی اوس نږدی رسوا او ناکامه کړی دی او په ټول هیواد کی یی دیوه مرکزی مضبوط واقعی اسلامی حکومت د رامینځ ته کولو په لپاره کی عمده اوغټ خنډونه له مینځه وړی دی. په هیواد کی داسلامی شریعت په ا سلاتولو او عملی کولو دافغانستان ذشهیدانو، بندیانو، کونډو اوپه دی لاره کی دمعیوبو مجاهدینو او غازیانو ارمانونه په ځای شوی دی. خلك دخپل سر، مال، ناموس، پت او ابرو په خوندی

پاتی په (٢) مخ

بشری حقونه او دملګرو ملتونو دوه مخي (٢)مخ

دین وایمان چیست ... (٢)مخ

اسلامي نظام ملي وحدت اوسوله ... (٣)مخ

د ادب ملغلری (٣)مخ

دانارشیزم په ځای له مرکزی ... (٣)مخ

په افغانستان کي داسلامي ښووني ... (٣)مخ

خائنان جهاد اسلامی ودشمنان وحدت ملی افغانستان از محاکمهء ملت نجات نخواهد یافت

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترکتنی لاندي
مسئول مدیر : مولوی احمد جان
تیلیفون : ۸٤۰۳۷۸
آدرس : په پیښور کي دطالبانو داسلامي تحریك نمائندګي
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۵۰۰) افغاني
: په پاکستان کی (۳) کلداری

سرمقاله ...

کولو سره دلوی خدای «جل جلاله» په دربارکی سرپه سجده اولاسونه په دعا دی دلوی خدای «جل جلاله» شکرونه اداکوی او له خپل هیواد ، دین ، ایمان اوعقیدی څخه ددفاع په خاطر هر ډول قربانی اوسربښندنی ته ځانونه چمتو کوی.

خو دافغانستان دملی وحدت دښمنان اوداسلامی شریعت مخالفان په هیواد کی دننه او له هیواده نه دباندی خپلو ملیوحانه اوله شرمه ډکو هلو ځلو ته دوام ورکوی دهر کفری اواستعماری ځواك داهدافو دترسره کولو دپاره هر راز خائنانه سازشونو اودسیسو ته بدی وهی اوداستعمار دغلامی کړی په غاړه کی اچوی څو په افغانستان کی دیوه واقعی اسلامي دولت مخه ونیسي.دمرکزي حکومت په ځای مختلفو باچاګردیو ته دوام ورکړي، دخلکو امنیت ګډوډ اوملي وحدت له مینځه یوسي. په داسي حالاتو کي دافغانستان داسلامی دولت مسئولینو ته په کار دي چي له مؤمنانه فراست څخه کار واخلي داسلامي حکومت په خلاف دسیکولرستانو ټریوالو هلو ځلو ته پام وکړي.

اودکامیابي په اساسي شرط باندي چي په لوي خداي «جل جلاله» باندي ټینګ ایمان دي کلك ودرېږي . دمؤمنانو په ورورې او همکاري باندي باور ولري، ټولو اسلامي ځواکونو اوشخصیتونو ته دکار کولو موقع ورکړي اودمسلمانانو له ښو لیشونو اواستعدادونو څخه داسلامي دولت په جوړولو اوپلي کولو کي درسته ګټه پورته کړي.

داسلامي پخلاینې او ورورولي لمن پراخه کړي ده کفارو په مقابل کي دسختي اوپه خپلو منځونو کي دمهرباني داصل په اساس باید دالحادي اوسیکولرځواکونو اوشخصیتونو په مقابل کي خپل ایماني شدت او صلابت په معقول انداز کي داسلامي اوملي ګټو په چوکاټ کي دلته خوندي وساتي اوداسلامي ځواکونو اوشخصیتونو سره داسلامي اخوت اوشفقت په چوکات کي دسترو اسلامي اوملي مفاداتو دترلاسه کولو دپاره د ورورې اوهمکاري مهربانه فضا رامینځ ته کړي.

دافغانستان ټولو مؤمنو اومخلوصو ځواکونو اوشخصیتونو ته په کار دي چي په هیواد کي دیوه واقعي اسلامي دولت داستحکام په خاطر او دملي وحدت دساتلو په منظور دطالبانو اسلامي تحریك ته دمرستي اوهمکاري لاسونه ورکړي څو داسلامي دولت په خلاف دتړیوال استعمار او دهغوي دمزدورو سیکولرستانو ناولي هلي ځلي خنثي اودملي وحدت ددښمنانو توطئي اودسیسي له خاورو سره خاوري کړي. راځئ چي دشخصي ، ګوندي اوتژادي ګټو په ځای اسلامي اوملي ګټو ته ترجیح ورکړو له غیر ضروري ضد اوسرټمبګي څخه تیر شو په واقعیتونو باندي داعتراف کولو اخلاقي جرأت وکړو، خپل ځان ، وله اوتژاد داختلاف او دجګړی له سوزونکي اور څخه وژغورو، لوي خداي «جل جلاله» جلاله راضي اوملت ته هوسا او نیکمرغه ژوند وریه برخه کړو.

د شریعت تبصره

دانارشیزم په ځای له مرکزي اسلامي دولت سره مرسته وکړی

زمونږ ګران هیواد افغانستان داتلسو کالونو په وږدو کی دیری سړی او تودی ، لوږی او ژوری ولیدی. لومړی یی دکمونستانو او روسانو په خلاف په اسلامي جهاد کی له یونیم میلیون څخه زیات شهیدان ورکړل اوله پنځه میلیونو څخه زیات هیواد وال وطن پریښودلو ته دکمونستانو اوروسانو له لاسه مجبور شول.

ډیری میندي پوری اومیرمنی کونډی شوی .له شپنه زره څخه زیات بندیان لادرکه شول، نه یی مرګ معلوم دی او نه ژوند ، تورسری او واړه ماشومان یی لا اوس هم ورته په هیله دی. داټول هغه دردونه دی چی که په غرونو راغلی وای ډری ډری به شوی وای، اوکه په دریابونو سرشوی وای وچ شوی به وای ،خو زمونږ با ایمانه اومجاهد ملت په ورین تندي او په ایماني غیرت او حوصلي سره وګالل څو ګران افغانستان له روسانو اوکمونستانو څخه آزاد او یو پیاوړی مرکزی اسلامي دولت رامینځ ته کړی.

د روسانو اوکمونستانو له ماتی نه وروسته نه یواځی دافغانستان مسلمان او مجاهد ملت په خپلو لویو اوفتوحاتو باندی ویاړونه کول اودیوه پیاوړی اسلامي مرکزی حکومت جوړیدلو ته لیواله وو، بلکښه دټری ټول یادرده او یادرکه مسلمانانو هم دافغانستان په باتور اومجاهد ملت باندی ویاړونه کول او دیوه اسلامی دولت دجوړیدلو په هیله یی څوګیرۍ دانتظار نکنده شیبی تیرولی او هیلی یی لرلی چی داسلامی دولت په ښنګولو او ودانولو کی به خپل ټول امکانات دلوی خدای «جل جلاله» د رضا دترلاسه کولو دپاره په کار اچوی.

له بده مرغه داسلامی جهاد ډیر شمیر ځان غوښتونکو اوتنګ نظره مشرانو دقدرت پرستی او ماده پرستی له کبله داسلامی جهاد دغه ستر او سپیڅلی اهداف ترپښو لاندی کښول، دافغانستان دشهیدانو اومجاهد ملت عظیمی اولوری هیلی له خاورو سره ګډی شوی، دټری دمسلمانانو پاکی ارزوګانی په ناامیدی بدلی شوی، لوی خدای «جل جلاله» ناراضه شو او هیواد د یوه پیاوړی مرکزی اسلامي دولت په ځای په وړو وړو پاچاګرویو او توابیوبدل شو، په هیواد کی چور او چپاول، وژل او ټکول، لوټول،وبی عفته کول دټوپکیانو اولوټمارانو عامه دنده وګرزیده. اسلامی اقتدار او ملی روایات تر پښو لاندی شول، دمجاهد ملت د غیرت او دهمت جذبی اواحساسات یی په بی رحمی سره داسی وځپل چی نور په خپل کړی جهاد پښیمانه او په هر اسلامی خوځښت او اسلامی نهضت باندی شکمن شول.

هرګ خوانه انارشیزم اوګډوډی خلك تردی له اسلامه نه بیزار کړی وو.

دهیواد په دغو غمجنو شیبو کی دتاریخ په دغه لړزونکی دوروکی بوګلی بیا دهیواد مبارز اوعالمانو دطالبانو داسلامی تحریك د با ایمانه » باتقوی او ذهین مشرامیر المؤمنین ملا محمد «عمر» مجاهد تر مشری لاندی، په ګران هیواد کی دناخوالو، ګډوډیو، ظلم ، فساد ، لوټمار او انارشیزم دله مینځه وړلو دپاره دوباره په اسلامی جهاد لاسونه پوری کړل وپه ډیر لږ وخت کی یی دهیواد په ځلوروکی دری برخی له انارشیزم او ګډوډی څخه وژغورلی داسلامي شریعت په پلی کولو یی دخلکو سر ، مال او ناموس په امن کړل، دمسلمانانو په زړونو کی یی بوځلی بیا داسلامی جهاد مړی ډیوی رابلی کړی ، ناهیلی یی په هیلو بدلی کړی او دیوه باوقاره پیاوړی مرکزی اسلامی حکومت دجوړیدلو ارزوګانی اوامیدونه یی بیرته را ژوندی کړل، هر مسلمان افغان تیار دی چی خپل سراومال طالبانو داسلامي تحریك ته دیوه پیاوړی مرکزی اسلامی حکومت دجوړولو دپاره وقف کړی څو داسلامی جهاد سره خائنانو او داسلامی شریعت دښمنو ته غابن ماتوونکی ځواب ورکړی. نور اوس په افغانستان کی دبا ایمانه او باغیرته افغانانو په مینځ کی دجهاد دخائنانو او دملی وحدت دښمنانو دپاره ځای نشته.

اوس دجهاد خائنان اودملی وحدت دښمنان دوه لاری لری. یا به دطالبانو داسلامی تحریك دمحترم مشر امیرالمؤمنین له عمومی بښنی څخه ګټه پورته کوی له مقاومت او تخریبکاری څخه به لاس اخلی او دیوه پیاوړی مرکزی اسلامی حکومت سره به مرسته کوی چی آزاد ، سرلوړی اواسلامی ژوند به ترلاسه کړی اویا به له دغه اسلامی حکومت او الهی لښکر سره ددښمنی اوجګړی لیاره نیسی چی دنورو طاغوتی اوانحرافی ځواکونو اویانهونو په شانی به دوی هم په دنیاکی له ماتی ، ذلت او رسوایی سره مخامخ کیږی اوپه آخرت کی به دلوی خدای «جل جلاله» دتیارشوی جهنم او دوزخ په سختو عذابونو کی تعذیب کیږی.

نو راځئ چی په هیواد کی په مسلمانانو اوپه اسلامی جهاد باندی رحم وکړو نور هیوادله انارشیزم او ګډوډی څخه وژغورو له اسلامی مرکزی حکومت سره مرسته وکړو، داسلامی شریعت ترسیوری لاندی په یوه موټی او متحد افغانستان کی ویاړلی اوسرلوړی ژوندله سره پیل کړو، او خوریدلو هیواد والو ته دآرام اوهوسا ژوندون فرصتونه ورکړو.

دملګرو ملتونو مؤسسی ته یو ،تنقیدي کتنه

بشری حقونه اودملګرو ملتونو دوه مخی

مولوي عبدالحکیم «مجاهد»

په تیره ګڼه کي مو دبشري حقونو په اړوند دملګرو ملتونو (UNO) په غیر عادلانه او دوه مخي پالیسي باندي خبري وکړي او دهیوادونو په لړ کي موله آسیا څخه په افغانستان کي ددغی مؤسسي دوه مخي رویه او دریز وڅیړل، په دغه ګڼه کي غواړو چي له اروپا اوامریکا څخه په یو٭یادوو هیوادونو کي دبشري حقونو په اړوند دملګرو ملتونو له دوه مخي پالیسي څخه یادونه وکړو او نړیوالو ته وښیو چي دغه موسسه څومره داستعماري هیوادونو تراغیزې لاندي ده او دملګرو ملتونو د باوقاره اوعزتمن سازمان له مقام څخه دبشري حقونو په نوم دکمزورو ملتونو اوپه ځانګړي توګه داسلامي هیوادونو په خلاف له څومره تبعیض او دوه رنګي څخه کار اخلي! دادي په دي لړ کي په اروپاکي دبوسنیا له مسلمانانو سره دبشري حقونو په اړوند ددغه سازمان له دوه مخي اومنافقت څخه یادونه کوو.

۲ - بوسنیا : په بوسنیا کي دیخواني یوګوسلوایا له ړنګیدو راهیسي کله چي مسلمانانو دلته خپل ځانګړي اسلامي هیواد اعلان کړي په پرله پسي توګه ددغه هیواد خلك دعیسایي صربیانو له خوا ځورول کیږي، بي عفته کیږي، بي کوره کیږي ، وژل کیږي او په وله ایزه توګه ترخاورو لاندي کیږي، خو دبشري حقونو ساتونکي اداري دملګرو ملتونو مؤسسي ته یواځي دا چي ددغو نړیوالو جرمونو مخه یي نه ده نیولي بلکي ددي برعکس د بوسنیا په مسلمانانو باندي یي دهر ډول وسلو په پلورلو بندیز هم لګولي دي اوصربیان یي ددوي عامي وژنې ته خوشي کړي دي.

تر اوسه په بوسنیا کي دبشري حقونو دمؤسسانو له رپوټونو سره سم ۱- پنځوس زره ښځي دصربیانو له خوابي عفته شوي دي.

۲- له سل زره څخه زیات مسلمانان وژل شوي دي.

۳- له یومیلیون څخه زیات خلك بي کوره شوي دي.

٤- یواځي په سر بریښنا کي چي دملګرو ملتونو دفوځونو تر کنترول لاندي وه صربي فوځیانو شپږزره مسلمانان په ډله ایزه توګه وژلي دي.

۵- ده سرائیوه په هوایي ډګر کي صربیانو دملګرو ملتونو دفوځ په وړاندي دبوسنیا دمرستیال صدراعظم موټر ودرول اوهغه یي ځای په ځای شهید کړ.

٦- په ۱۹۹۵ م کال کي صربیانو ده توزلا» په خوندي سیمه کي د بوسنیا د دولت دخارجه چارو دوزیرالوتکه راوغورزوله چي دخارجه چارو د وزیر سره نور لوړ رتبه دولتي مامورین یي شهیدان کړل.

۷- دعیني شاهدانو له مخي په بوسنیا کي دولیزو وژنو دهدیرو شمیره (۳۰۰) ته رسیږي چي (۸۰۰۰) وژل شوي کسان په دي کي خښ دي.

۸- صربیانو دبوسنیا دمسلمانانو ۸۰ ٪ کي ځمکه په زور لاندي کړي ده او ۵۰٪ کي ځمکه یي صربي بدمعاشانو او تروریستانو ته دتښ په نوم سولي په لړ کي دانعام په توګه ورکړي ده.

۹- په بوسنیا کي دمسلمانانو په ځپلو او کمزوري کولو سره ، مسلمانان مجبورکړل شول څو له صربیانو او کرواتانو سره دکنفیدراسیون په بڼه کي یومخلوط سیکولر حکومت جوړ کړي اوپه دي توګه مسلمانان په بوسنیا کي دیوه اسلامي دولت له جوړولو څخه محروم کړای شول.

۱۰- ملګرو ملتونو له یوي خوا په بوسنیا باندي دوسلو دپلورلو بندیز ولګول اوله بلي خوایي د بوسنیا په یو شمیر ښارونه کي لکه : سرائیو، توزلا، ګوراز دي، بهاك ، زیپا اوسربرېنتسا دخوندي سیمو په اعلانولو سره له مسلمانانو څخه وسلي ټولي کړي، خوکله

دپارلمانه برخه

چي صربي ځواکونو ده راتکوملادیچ» په قومانده دسربرېنتسا سیمه محاصره کړه، دملګرو ملتونو فوځونو او ناتو (NATO) نه یواځي داچي دصربیانو دیرغل په مقابل کي ونه دریدل بلکي خپله دملګرو ملتونو هالندي فوځونو لمري دښار ستراتیژیك ځایونه اوبیا ټول ښارصربي ځناورانو ته خوشي کړل اوپه دي توګه دښار پنځه څلوېښت زره اوسیدونکي دصربي عیسایانو په خونخوارو منګولو کي په داسي حال کي ولویدل چي هیڅ دفاعي مؤثره وسله یي نه درلوده.

«راتکوملادیچ» له ۲۵ زره څخه زیاتي ښځي اوماشومان له ځانه سره یرغمل ونیول اویوزیات شمیر هغه پېغلي چي عمر یي له ۲۰ کاله څخه لوړ نه وو دجنسي تیري دپاره انتخاب کړي. ددي دپاره چي دملګرو ملتونو فوځ ته خپل وحشت ورونیي ددوي ترمخ یي شل تنه مسلمانان په چارو باندي حلال کړل اوپه زرګونو مسلمانان یي په وله ایزه توګه ووژل. دا هغه سیمي وي چي دامنیت دشوري ۸۳٤ او ۸۳٦ مصوبو له مخي خوندي سیمي اعلان شوي وي. دملګرو ملتونو په فوځ کي مسلمانان فوځونه هم موجود وو چي غوښتل یي دبوسنیا له مسلمانانو څخه دصربي وحشیانو لاسونه ونیسي خو هغوته د داسي کولو هیڅ اجازه نه وه. دغه حقیقت دملګروملتونو دیوځ یو مصري قومانادان له «امپیکت انترنیشنل» سره په یوه مرکه کي چي له لنډن څخه خپرېږي داسي بیان کړي دي!

«زه دري میاشتي کیمپ دلته په «سرائیو» کي توظیف شوي یم وضع نه چي ګورم ډیر مایوسه یم. هره ورځ دخپل مسلمان ورور وژنه په سترګو وینم ، ظالم اوځناور صربیان هره ورځ د بوسنیا په معصومو خلکو باندي ګولي اوروي. صربي پوځیان دلته دملګرو ملتونو په فوځونو باندي هم ګولي اوروي خو زه له دي څخه نه ویریږم ، زه له دي نه ویریږم چي له مونږ سره دیو څه کولو والګ نشته . په دغو ورځو کي زمونږ یو زورو ملګري شهید شو.

زه چي دلته راغلم خوشحاله وم چي له خپلو مسلمانانو ورورو څخه به دفاع کوم او مرسته به یي کوم خو دلته په سترګو وینم چي مسلمانان وژل کیږي لوټل کیږي او زه ورسره هیڅ نه شم کولی. ماهغه مسلماني نجوني هم ولیدلي چي په وله ایزه توګه وربانذي جنسي تیري شوي وو.

ماهغه ماشومان اولوبان هم ولیدل چي په دوي باندي غیر انساني ظلمونه شوي دي. دغه یوه مسلمانان وژونکي جګړه ده چي مسلمانان دمیږو او وزویه شاني په کي حلالیږي.

زه دلته په جدید اومعاصره وسله باندي سنبال یم، له مونږ سره غراده جات اوپه زیات شمیر مهمات موجود دي ، دبوسنیا له ټول پوځ څخه زمونږ ځواك زیات دي . خو زما په وړاندي مسلمان وژل کیږي ، ظلمونه کیږي اوزه دملګرو ملتونو له مرکز څخه تشم ورونتي چي له دوي سره مرسته وکړم ، ان تردي چي ددغو ظلمونو په مقابل کي غبر ګون یاعکس العمل هم نشم ښودلي.

له مونږ سره ټردي دانه کیلومتره په فاصله کي دمسلمانانو ټنکي نجوني دصربیانو په قشلو کي بي عفته کیږي چي ځیني یي اوس حامله شوي هم دي، له ماسره دځلورسوه صحسري پوځیانو غوند دي، دصربیانو دقشلو ساتونکي بالکل لږ دي اوکه لږ هم نه وي له ماسره دلوي خداي «جل جلاله» فرمان دي چي ځواك دالله تعالی په لیاره کي جنګیږي له هغه سره پرینتي مرسته کوي، خو دلته دملګروملتونو په قومانده زما لاسونه ټړل شوي دي او هیڅ هم نشم کولي .

اخیر کله چي مونږ ته دهیڅ کولو اجازه نشته ، ظالم له ظلم څخه نشو منع کولي ، مونږ ته ددغو مسودونو اومعاصرو وسلو دورکولو هدف څه دي!

اوکه له دي نه هدف دځان ساتنه وي. خو دیو مسلمان په توګه خجالت کوم چي زما په وړاندي مسلمان وژل کیږي، خوندي نځي عفته کیږي اوزه پته خوله ورته ولاړ سیل یي کوم . داماسخت ځوروي چي له دوي سره هیڅ نشم کولي.» دملګرو ملتونو یوه بله دنده چي دجګړي مجرمان باید محاکمه کړي دامنیت دشوري له فیصلي سره سره عمومي منشي لومړي دیوه هیئت په ټاکلو کي ځنډ کاوو اوبیایي له هیئت نه دیوه مسلمان امریکایي دبین المللي قانون پوه و داکترشریف بیسوني» دلري کولو اومسترد کولو په کار دمحاکمي کار نه ضرر ورسول او وروسته چي محاکمه پیل شوه شواهد اوګواهان موجود وو خو دجګړي دزرهاوو خلکو قاتلان « رادوان کار ادزیچ» دبوسنیا دصربیانو مشر اوه جنرال رادکوملادیچ» دصربیانو عمومي قوماندان چي باید ده دیښون» دسولي دلرون سره سم دناتو ځواکونو په واسطه محکمی ته احضار شوي واي نه یواځي داچي احضار نه شول بلکي دبوسنیا د صربیانو دجمهور رئیس اودعمومي قوماندان په توګه دوارو خپلو دنډو ته دوام ورکاوو. ددوي دنیولو موضوع دومره ختلي شوه چي حتي « هالبروك » دسولي دترون جوړونکي او دامریکا دخارجه چارو دوزارت پخواني مرستیال وزیر په ډیره ناکامي سره اعلان کړیه مونږ په بوسنیا کي ددوه لاري په سرولاړیو، یواځي دا ناتو ، سازمان دي چي دغه ترون دیلي کولو توان لري خو هغه دا کار نه غواړي. »

ځکه چي په بوسنیاکي دامنیت چاري ده ناتو » دسازمان په لاس کي دي دمجرمینو په نیولو کي یي ده هاګ » دبین المللي عدالت له هیئت سره هیڅ مرسته ونه کړه بلکي دجګړي اصلي عاملین دالتلانو په توګه دصربیانو په ټولو رسمي اوغیر رسمي مراسمو کي برخي اخلي اوحتي د ناتو دسازمان په مرسته یي نژدي ټول ‹ وله ایزو هدیرو شواهد هم له مینځه وړل.

په بوسنیا کي دملګرو ملتو نو دپوځونو په موجودیت کي دمسلمانانو دعامې وژنې ، وله ایزي بي عفتي دبوسنیا د مرستیال صدراعظم اوخارجه وزیر شهید کول اودجګړي له مجرمانو سره نرم سلوك کول اوهغوي دالتلانو په توګه وړاندي کول ټول داسي ځرګند اوښکاره شواهد دي چي دملګرو ملتونو دبشري حقونو پروپاګند اوتبلیغات یواځي دمسلمانانو په خلاف اوپه درېیمي نړي کي داستعماري هیوادونو دګټوله خوندي کولو نه پرته بل هیڅ مفهوم نه لري . ددوي په نژد دبشري حقونو مفهوم دسترو هیوادونو دګټو ساتل دي اوکه هغه له ګواښ سره مخامخ کیږي نو بیا دبشري حقونو پروپاګند « په خپل ټول زور سره پیل کیږي چي دا کار دملګروملتونو دناعزته او باوقاره حیثیت سره لویي کول دي اودمسلمانانو او درېیم نړي سره دوه مخي اومنافقت دي اویس.

دین وایمان چیست وچگونه بشر را بسوی ارتقا وپیشرفت دعوت مینماید

تتبع ونګارش «مولانا زاده»

پیوسته به ګذشته

برګردیم باصل موضوع ومفهوم دین که بالاختصار میتوان ګفت که مفهوم دین وروح دینی واسلام حقیقی تنها وتنها عبارت از احکام الهی است که خداوند«جل جلاله» توسط پیامبر بزرګی با انسان مسلمان میرساند وچون دین عبارت از احکام الهی است ومقصد ومرام آن برابری واستواری سلوك وفکر ودرست ساختن انسان است پس شکی نیست که آن انسانیکه ایمان واستقامت داشته وبراه راست رهی وران باشد انسانی است که نه تنها در ساختمان تمدن انسانی سهمی داشته بلکه انسانیت کاملاً متمدن وپاك سرشت که دین در زندګی او اثر قابل ملاحظه داشته است.

دین در ذات خودش دعوت بسوی ارتقا وپیشرفت است.

بغرض رد ادعای آنانیکه میګویند: دین مانع ترقی وپیشرفت جامعه است وآفیون اجتماع میباشد لازم میبافتد که بدانیم ترقی وپیشرفت چیست وچه مفهومی دارد ومتقابلاً عقب افتادګی وپسمانی از کاروان تمدن انسانی در میدان انسانیت عبارت از چیست!

مقصد ومطل از ترقی وپیشرفت در انسانیت اینست که یك انسان در انسانیت چنان نموی طبیعی نماید وبالاخره بمرحله میرسد که در آن خصایص انسانی انسان واوصاف ممتاز اوبصورت کامل تصویر وتطبیق ګردد، اعمال انسانی از اوصادر ګردد، در راه انسانیت قدم بردارد واز حالت طفولیت بشری برسد کامل انسانی میرسد ومراهق ګردد.

هرګاه انسان از حالت طفولیت بشری براهد ورشد نیاید ودر مرحله مراهقی ونوجوانی را که بماند، انسانی است که عقب مانده وپسمانده میتوانش خواند.

بلی! در انسانیت رشد ونمو کردن نموی جسمی وبدنی است وطوریکه بدن انسان در طول وعرض وضخامت نموی میشوازن مینماید وجسماً انسان بمرحله انسانیت میرسد هرګاه بهمان شکل وجسامت خوردسالی وطفولیت بماند، انسان صاحب جسم کامل وسالم باوتمیتوان ګفت ،همین قسم اګر یك انسان در تفکیر وادراك خودش، سلوك وعمل خودش در مرحله طفولیت باقیماند اورا نیز انسان مکمل نمیتوان خواند واوانسانی است ناقص وعقب افتاده، پس وقتیکه تقدم بشری وپیشرفت انسانی را در ګذار از مراحل مراهق انسانی میدانیم . اسلام عبارت از مجموعه آن مبادی است که بران مبادی ایمان وعقیده میخواهد وهرګاه ایماندار همین مبادی را عملاً تطبیق کند وپیروی نماید بالضرور در پرورش وتربیه باخرین وبالاترین درجه کمال انسانی که مرحله پیشرفت وتقدم وترقی است رسیده است، چه تمام مبادی اسلامی که عمل برآنها واجب است در جنبه اجتماعی انسانی تمرکز داشته وبرمحور اجتماع میچرخند زیرا:

۱- این مبادی درنوعیت (علاقه لانسان با انسان) تمرکز دارد.

۲- این مبادی فکر انسان را بسوی عمل متوجه میسازد که انسان در برابر دیګری مرتکب میګردد.

اسلام زندګی فردیت را در سایه حمایت جامعه تبلیغ میکند وخواهان آنستکه فرد عنصر مفید اجتماع باشد چه از فرد انسان اجتماعی ساختن مرحله بزرګ پیشرفت ورشد انسانی خودش میباشد. اسلام میخواهد انسان را از دایره تصرف غریزه اش به دایره کاروانی انسانی داخل کند، زیرا غریزه همیشه ودایم انسان را بسوی خود خواهی دعوت میکند وانسانیت انسان را به ماورای خودش میکشاند واز دایره محیط شخصی دخول به محیط اجتماعی ومشترك را مانع میشود. پس بنابر آن غایه وهدف دعوت اسلامی اینستکه :

جامعه درقیام وبنای بقای خودش سالم ونیرومند باقی بماند.

اینکه اسلام حرام را حرام خوانده وبرمال ،آبرو وجان مردم تجاوز را منع فرموده ، همین جانب اجتماعی را در نظر ګرفته ونمی خواهد که فردیت وانانیت بمیان آید و رشته های اجتماعی قطع ګردد واګر اسلامی برعایت حق دعوت میکند وهدایت میفرماید که «و شماهریك راعی ومسئول رعیت خود میباشید» غرضش اینست که افراد علاقمند یکدیګر ګردند واز دایره فردیت بدایره بزرګ ووسیع زندګی اجتماعی داخل ګردند. واګر اسلامی به نهضت ونیکوئی دعوت میفرماید، بازهم جنبه اجتماعی وخیر وبهبود اجتماعی را در نظر میګیرد ونمیګذارد پیروانش بمرض فرقه پرستی شخصی مبتلا شوند.

قرآن میفرماید: « ای مومنان اموال یکدیګر را بطریقه ناجایز وناروا میخورید ولی اګر برضاعیت طرفین در تجارت از یکی بدیګری نفع برسد فرقی نمیکند و آن ناروا نیست. »

ونیز میفرماید:« نفس را که خداوند «جل جلاله» قتلش را برشما حرام ګردانیده غیر حق نکشید. »

هکذا میفرماید: کامیابی وموفقیت نصیب مومنانی است که در ادای نماز شان بخداوند خشوع وخضوع میدارند. از ارتکاب اعمال ناجایز وحرفهای بیهوده اجتناب میورزند ،عورت شان را بجز از زنان شان از دیګران پنهان نګهمیدارند وزنا نمیکنند، رستګارانند در غیر آن ظالم ومتجاوز شناخته میشوند» باز میفرماید: « جزای بدی همچنان بدی است ولی اګر کسی عفو کرد واصلاح نمود، اجر او نزد خداوند«جل جلاله» است. »

باز میفرماید: جنت وبهشت جای کسانی است که درحالت دارائی وناداری انفاق وسخاوت مینمایند وغیظ وقهر خود را تحمل میکنند ومردم را می بخشند وعفو مینمایند چه خداوند عفو کنندګان واحسان کنندګان را دوست میدارد. » همچنان میفرماید: بشما امر میشود که احسان کنید وعدالت را برقرار دارید وبه دوستان واقربا انفاق نمایید واز آنچه ناروا وناسزا وناجایز وتعدی وتجاوز است خود داری ورزید. » از رسول کریم «ص» نیز احادیث زیادی نقل شده که میفرمایند:« خون، مال وآبروی هرمسلمانی برمسلمان دیګری حرام است ونیز یك مؤمن با مؤمن دیګر چون خشتی از یك تعمیر است که یکی دیګری را محکم واستوار نګهمیدارد» وقس علیهذا آیات واحادیثی زیاد وبیشماری هست که علایم دعوت اسلامی را واانمود میکند وبما تفهیم میدارد که همه این دعوت برمبنای تفکر و دایره فکر جمعیت وتطبیق سلوك انسانی واجتماعی است و یا بالاخره هدفی است که انسان در تصرف وسلوك خودش باقی نماند.

پیشرفت بسوی خصایص انسانی درحقیقت پیشرفت [illegible] ساحه ومیدان اجتماعی وتفکر اجتماعی مقدم بر سلوك انسان است چه باقی ماندن در دایره فردیت وانانیت وسلوك فردی غریزه بقا خوانده میشود وبنابر همین سبب است که انسان درطفولیت غیر از خود کس دیګری را نمیشناسد وغیر از آن چیزهائیکه متعلق بخودش میباشد بچیز دیګری فکر نمیکند وبآن نمی نګرد، در مقابل همه اینها بازخصایص رشد انسانی است . انسان رشید ورسیده ارزشها رامیشناسد، درصحنه بشریت عدل ومساوات را رعایت میکند، برادری را میداند وبه کمك وهمدردی اوسعی وتلاش بخرچ میداهد ودر علایق بین افراد جانب جامعه را میګیرد. انسان مراهق وبا انسان در حال رشد بین طفولیت بشری ورشد انسانی زندګی میکند واوانسانی است که از نګاه ودید زندګی وزندګانی بین غریزه وعقل بین هوا وحکمت، بین فردیت جمعیت در حالت تردد قرار دارد. اسلام که در طریق حفاظت جامعه حرکت میکند ومیخواهد سلوك اجتماعی بمیان آید ،به ملحوظ آنستکه میخواهد انسان رشد داشته باشد و او را از مرحله طفولیت چه که حتی از مرحلـ[illegible]ـت رسیدګی نیز بیشتر بسوی رشد [illegible]

به تقدم مادی وپیشرفت وتقدم بشری نمیتوان ګفت وهمچنان تقدم وترقی مادی دلیل پیشرفت وارتقای انسانی نمیباشد، چه پیشرفت در انسانیت وقتی صورت میګیرد والسان مترقی خوانده میشود که تفکیر ، وجهان وسلوك عملی انسان علامه ونشانه انسانیت داشته باشد و آن اینکه جمعیت را بر فردیت ترجیح دهد. پیشرفت مادی متکی برعلم وفکر است وقوام تمدن مادی منهج علم تجربی تحلیلات ومصانع میباشد ولیکن این تمدن وترقی علمی هیچګاهی سلوك اخلاقی انسان تغییر نمیتواند شد.

بنابر این شرط اساسی پیشرفت بشری اینست که به پهلوی فکر سلیم انسانی وسلوك واخلاقی انسانی قرار بګیرد واز همین سبب تمدن مادی علم بیشتر سلوك اخلاقی نیازمند است تا آنکه این علم ،تمدنطبیعت بشري بګیرد وبالاخره به تمدن کامل انسانی مبدل ګردد.

در زندګانی انسان عنصر مهم اینست که در راه وطریق انسانیت حرکت شود ومحض به مادیت اکتفا نشود چه بسی اوقات دیده شده که عالم جید ومتفکری با وصف علم وفکرش صاحب سلوك اخلاقی نمیباشد وبجای آنکه عامل خیری بجامعه ګردد و به انسانیت مفید واقع شود، ضرر میرساند واما صاحب اخلاق انسانی نه بخودش ضرر میرساند ونه دیګری از اومتضرر میګردد که البته این انسان انسان مسعود وخوشبخت میباشد، زیرا خوشبختی وسعادت انسان اینستکه انسان زندګی آرام ومطمئن داشته از ظلم وتجاوزکسی در ترس وهراس نباشد. از اینرو پیغام محمدی «ص» (اسلام) نازل شد تا در صورت تطبیق در اجتماع بشري امنیت وعدالت را تأمین کند وباعث زندګی آرام بشری ګردد.

پس آن خفاش صفتانیکه از نور آفتاب چشم میپوشند وروشنی وحقیقت دین را در پرتو تفکر وسلوك انسانی مطالعه نمیکنند خود قضاوت نماید که دین اسلام با اینهمه جانبداری از پیشرفتها وترقیات انسانی که برمبنای فکر سلیم وسلوك واخلاق انسانی بنا یافته وصورت ګرفته باشد و باعث سعادت وخوشبختی جامعه ګردد وامنیت وعدالت را در اجتماع انسانی تأمین کند وبه بشر آرامش وسکون بخشد، ممد ترقی وپیشرفت است ویا از ارتقا وپیشرفت ممانعت میکند!!! پرواضح است که دین وبخصوص دین مبین اسلام همه پیشرفتهای بشری را که محض متکی برمادیت نبوده بلکه خصایص انسانی را نیز رعایت کند وجنبه خیر وبهبود اجتماعی داشته باشد بهمه پیروانش توصیه وسفارش کرده است که آیات قرآنی واحادیث نبوی«ص» ګواه صادق ادعای ما بوده ودیګر مجال انکاری بکسی نمیدهد بازهم وبا وصف اینهمه جانبداری دین (دین اسلام) از ترقی وپیشرفت انسانی هرګاه تردد باقی میماند میګویم: «شهیره ګر جرم آفتاب نبیندګاه آفتاب نباشد».

ژغورند اسلامی تحریک دسرمنزل په لور

سید محی الدین هاشمی

دخپلی سپېڅلی عقیدی په رڼا کی دیو لوی مسئوولیت اومکلفیت دسرته رسولو احساس راپاڅولی و او یوه ستر هدف ته ورسېدو په هیله یې پر یوی ستونزوری لاری دتللو هوډ اوتکل کړی و.

الهی «ج» احکام اونبوی «ص» ارشادات یې دلاری دتیاره گوټونو دروښانولو څراغونه وو، ایمان اوپه الله «جل جلاله» ټینگه عقیده یې ډاډمنه اوکارنده وسله وه ، دینی جذبه یې دحرکت اوخوځښت اساسی محرك و.

دخپلی پوهی اوبصیرت له مخی یې دلاری ټول خوری پېچومی ښه پېژندل اوپه دی پوهېدل چی یو عالم کړاوونه اوستونزی په مخکی لری او...

له ایمان اوعقیدی وروسته سرښندنه اوځان تېرېدنه په دی لاره کی یوازینی شرط و ، ځکه خو هرچا ورسره په تللو کی ملتیانه شرای کولای.

په پیل کی یې دلاری ملگری لږ وو ، خو دخپلی ستری داعیی حقانیت په دی واړه کړی وو چی ملـه به یې ورځ تر ورځی زیات شی، ټول پاکزړی مسلمانان به خامخا ددوی ترڅنگ ودرېږی اودلاری مله به یې شی.

ددوی داتکل او اراده په پیل کی ځینونا پوهو اودباطل پلویانو ته محض سرزوری اوناپوهی ښکارېدله اولاپوکی مسخری به یې هم ورپوری کولی. ځینو چی بیا داتکل او اراده دخپلو ناروا واکمنیو اوخپل سریو په وړاندی دخطر زنگ او گواښ بلله، نوبیې په یوه اوبله بڼه دهغوی دتجرېدولو ، تیت پرك کولو اوله منځه وړلو له پاره هری وسیلی اووسلی ته لاس واچاوه خوهر څه یې بی اغیزی شول.

دوی چی یوځلی پرېکنه لاره دتللو اوسترهدف ته درسېدلو پخه اراده کړی وه ، دسر منزل په لور مخ په وړاندی روان وو . له یوی ورځی څخه بلی ته ځواکمن کېدل، لیکی (صفونه) یې پیاوړی کېدلی اودخپل مؤمن ملت په زړه کی یې له ظلم اوفساد څخه د ژغورونکی ځواك په توگه ځای پیداکاوه. حکه نو خلکو خپلی هیلی ورپوری تړلی او دا پاڅون یې دژغورنی زیری گاڼه.

دوخت په تېرېدو بیا ټول مؤمن اوحق پرست وگړی له دوی سره تللو او هرډول مرستی ته چمتو شول او دالهی آزموینی په ډگرکی دزور زیاتی اوفساد پرضد جگړه کی ددوی ترڅنگ ودرېدل. ددغه روا پاڅون برخه وال شول اودظلم اوفساد پرڅالو یې مرگونی گوزارونه وکړل

دحق دلارویانو کاروان له الهی آزموینی بریالی راووت سترهدف ته درسېدو دلاری پړاوونه یې په بری سره ووهل اودخپل سرمنزل پړاو ته ورسید. خو مسئولیت اومکلفیت یې پای ته نه دی رسېدلی بلکی تر پخوا هم دروند ښکاری ، لاتوره سرښندنه اوځان تېرېدنه هم غواړی ، ترهغه چی دظلم اوفساد ټولی جرړی ووځی اودخدای «ج» دین حاکم وگرځی، همدغه ددی ژغورونده تحریك ستر اوروستی هدف دی.

د ادب ملغلری

کله هیریږی

عبداللطیف «نثار»

توره وریځ راخوره وه په افغان کله هیریږی
چی ملحد کړه کودتا هغه زمان کله هیریږی
گردله وه لوری دوری تورتوپان و دغمونو
توره شپه وه صبحدم می خر آسمان کله هیریږی
وحشت تاکه هیبت تاکه عجیبه غونډی غوغا وه
چی کوڅو کی ئی گرمی کړی شورویان کله هیریږی
دوطن ددنگو غرونو دخوځلاومعامله وه
ها په غم لړلی ورځ په دانسان کله هیریږی
دبندیانو چی څگروی وو دهیواد په جبل خانوکی
په برچو باندی وتلی هانوکان کله هیریږی
چی له کوره به ئی بوتله تش په دی چی مسلمان ؤ
چی بی شمیره ئی وژلی افغانان کله هیریږی
دتاریخ صفحی لړلی دالحاد په سرو الفاظو
مقدسی کلیمی می دقرآن کله هیریږی
چی هرڅو ظلم ئی وکړ په افغان خوپاتی نشو
دا دخاد دوړلی مشر لوی شیطان کله هیریږی
زه «نثار» به درته لیکلم دا دغم ټول داستانونه
دجهاد ځلانده ستوری ستر غازیان کله هیریږی

جونگړی!

حقیار

ای زما دویار اودغیرت جونگړی!
دننگ اوپت او دعزت جونگړی!
افغانستانه صدقه دی شمه
دشریعت اوعدالت جونگړی!
تاته اصحابوه «رض» دین اسلام راوړی
ته یولرغونی اسلامی هیواد ئی
تاله علی «رض» دحق نظام راوړی
ته یوځلاند اوالهامی هیوادئی
ته خو دستر امام نعمان «رح» وطن ئی
ته دملا علی قاری «رح» خاوره ئی
هم درازی «رح» غونډی انسان وطن ئی
هم دجامی «رح» اوانصاری «رح» خاوره ئی!
تاکی محمود غزنوی لوی شوی
تادی ډېری ډېر عالمان روزلی!
تاکی میرویس اوابدالی لوی شوی
تادی تکړه تکړه زلمیان روزلی!
ته دکابل دحضرتانو کورئی
تاکی بی شمیره زیارتونه شته دی
ته دپیرانو اوولیانو کورئی
تاکی مشهور شخصیتونه شته دی
ته ئی دعلم او هنر مناره
ای دسرتیرو اتلانو ځانگو
ته ئی دالله اکبر مناره
ای دپیاوړو طالبانو ځانگو
ای دملا محمد عمر ټاټوبی!
اوس هم تکړه تکړه بچیان لری ته
ای دحقیار دزړگی سرټاټوبیه
شکردی ښکلی طالبان لری ته!

ستړی مشی

طالب العلم محمد اشرف (خسروي) له لوگر څخه

اي فاتحو طالبانو ستړي مشي
اي ريښتونو مسلمانو ستړي مشي
دظالم وحشي لښکري مو کړي ماتي
اي باتورو افغانانو ستړي مشي
دفساد باغي نيلي موپه گونډو کړ
دحمزه په پله روانو ستړي مشي
دباطل مخي ته سد يي دپولادو
ابدالي بابا بچيانو ستړي مشي
دفساد جرړي مو وويستي له بېخه
داسلام ددين گلانو ستړي مشي
سنگرونه مو توديږي ورځ تربلي
وحدانيت دکور زمريانو ستړي مشي
چي راويښ مو ولسونه کړل له خوبه
دميرويس نيکه لمسيانو ستړي مشي
(خسروي) مودسپېڅلي لاري مل دي
داسلام پاسبانانو ستړي مشي

توکیدلی هیلی

ملا اسدالله حنیفی

بیانوی نوی راټولیږی هیلی
که خدای کول اوس پوره کیږی هیلی
سپین بیرغونه په وطن رپیږی
ورته قبروکی هوسیږی هیلی
د وحشتو نو تغر اوراخیستی
دروهی منزل ته مو رسیږی هیلی
دکونډو خوارو بورو ورارو زموږ
پس له کلونو راسپړیږی هیلی
نوربه خوبنی وی خوشالیانی به وی
چی په کټ کټ راته خندیږی هیلی
حنیفی راغی ستادهیلو دوران
ټولی دنیا ته دی خپریږی هیلی

پېښور

اسلامی نظام، ملی وحدت، سوله اوسوکالی غوره اهداف دی

پیس

دادی دوه لسیزی وشوی چی دافغانستان خلك دجنگ په لمبو کی سوځی. خپله هستی له لاسه ورکوی او هره ورځ دهیواد دښمنان دجنگ د اوږدولو لپاره نوی پلمی پیداکوی. دا جنگ چی مختلف عوامل اوبهانی لری اساسی علت یې دافغانستان گاونډیان وو.

د۱۳۵۷کال دغوایی د اوومی نیټی له کودتا څخه رابیل او د ۱۳۵۸ کال دجدی دشپږمی نیټی په برېند پوځی یرغل سره یې دټولو نړیوالو موازینو په خلاف په افغانستان کی له خپل نظامی مداخلی سره هغی ته دوام ورکړ. ددی مداخلی په اساس افغانستان دنړیوال ساړه جنگ د وروستی قربانی په حیث مېجوروؤ دخپل اسلامی هویت اوملی بقا په خاطر دا جگړه پرمخ یوسی، ددی جگړی نړیوال ابعاد دپخوانی شوروی نظامی مداخله وه او کورنی علت یې په هیواد کی دیو مزدور اوپلورل شوی هیواد اوخلکو ته خاین گوندو حزب دموکراتیك خلق، خلق پرچم ؤ، ددی جگړی نتیجه دا شوه چی پخوانی شوروی ماتی وخوړه، خپلی مستعمری یې له لاسه ورکړی، خو افغانستان دوه میلیونه شهیدان ورکړل اوله نیم میلیون څخه زیات خلك معیوب شول چی دکارکولو صلاحیت یې له لاسه ورکړ، ددی جگړی دوهم پړاو دافغانانو دجهاد او ویاړونو پرخلاف د دوو میلیونه شهیدانو دوینو دخرڅولو او دهیواد دلا بربادی پړاوؤ چی داهم دخلق پرچم دمزدور گوند او دهغوی دبادار په توطیه پیل شو دا دجنایت اوخیانت دوهمه مرحله وه چی په نتیجه کی یې په هیواد کورنی جگړه تحمیل شوه اوله څوارلس کلنی جگړی وروسته هستی مو په دی جگړه کی له لاسه ورکړه له بده مرغه ددی جگړی په عواملو کی دمجاهدینو ځینی ډلی هم ورښکیل شوی په اگاهانه او نااگاهانه ډول یې دی جگړی ته لمن ووهله او دهیواد غمیزه یې لا اوږده کړه . باید ووایو شی چی ددی جگړی اساس دجبل السراج مثلث ډوله معاهده وه، چی دځینو تنظیمونو او پرچمیانو ترمنځ لاس لیك شوه خو دهیواد اصیل بچیان کرار ناست نه ؤ دهیواد دخلاصون اونجات په خاطر دهیواد پالو مسلمانو افغانانو له خوا په مختلفو ډولونو دجنگ دختمولو اوسولی د راوستلو لپاره هر اړخیزی هلی ځلی کېدلی، ولی مؤثری ځکه نه شوی چی بهرنی لاس وهنه لاهماغه شان روانه وه، دهمدی هلو ځلو په لړ کی دهیواد صالحو او مجاهدو بچیانو طالبانو اسلامي تحریك جوړکړ چی گوندی وکولای شی هیواد ته له اوسنی غمیزی څخه نجات ورکړی، دی حرکت ورو ورو قوت واخیست دهیواد مسلمانی پرگنی ورسره یوځای شوی دوینا اوعمل ورته والی او رښتینولی په اساس بالاخره دا ډله دبری په لاره روانه شوه او د طالبانو داسلامی تحریك ترعنوان لاندی دهیواد دنجات کاروان دهیواد والو له خوا په هر ځای کی له استقبال سره مخامخ شو چون اهداف غوره وو اونیت سم ؤ نو دی تحریك وکولای شول چی ددوو کالو په موده کی دهیواد زیاتی سیمی له فساد څخه خلاصی کړی او خلك دارام ساه واخلی اودهوساه ژوند په لوری روان شی. دا کاروان بالاخره دهیواد مرکز تاریخی کابل ته راورسید اودمیزان په شپږمه یې دهیواد زړه له فساد څخه پاك کړ. او اوس هلته د اسلام دمقدس دین نورانی انوار دخلکو په ژوند تجلی کوی. خو له بده مرغه دهیواد دملی وحدت اواسلامی هویت دښمنان لا کرار ناست نه دی اوداحل بیا دپخواپه شان دجبل السراج په حای یې دختجانو ترون لاس لیك کړ ، داترون دافغانستان دملی وحدت او ملی گټو په ضد یو خاینانه عمل دی چی انشاء الله نتیجه به یې دپخوانی ترون په شان ناکامه وی او افغانان به دلوی خدای «ج» په مرسته په دی بریالی شی چی دافغانستان اسلامی هویت ، ملی وحدت ، سوله اوسوکالی دهیواد دخلکو لپاره تأمین کړی مور په دی باور وو اویو چی هدف نیك وی اونیت صاف وی منزل اسانیږی.

په الهی نصرت او دملت په ملاتړ به انشاء الله یوموټی او خپلواك افغانستان دتل لپاره وی او افغانان به خپل سوله ییز سوکاله ژوند ته په خپل هیواد کی انشاء الله دوام ورکوی.

په افغانستان کی داسلامی ښوونی اوروزنی دمرکزونو تاریخی سیر

لیکوال: س.م.د. «هاشمی»

په تیر پسی

(۲) دمغلو له تاړاك څخه دافغانستان ترخپلواکی

(۶۱۸ هجری قمری – ۱۲۹۸ هجری لمریز

زمونږ په هیواد کی داسلامی ښوونی اوروزنی په دغه اوږه سوه کلن تاریخی بهیر کی په ترتیب سره دچنگیزیانو، کرتانو ، تیموریانو، بابریانو، غلجیانو ، سدوزاپانو اومحمدزاپانو دکورنیو دواکمنی دوری شاملی دی.

له تاریخی خبرو څخه څرگندیږي کله چی چنگیزخان دایران اوماوراالنهر سیمی ، لکه سمرقند، بخارا اونوری ونیولی ، نوپه (۶۱۸ هجری قمری کال له جیحون (آموسیند) څخه راپوری ووت او زموږ پر هیواد لرغونی افغانستان یې یرغل وکړ اوهغه دیو مؤرخ په قول «و آمدند وکندند وسوختند وکشتند ورفتند» معلومه خبره ده چی په دغو یرغلونو کی ، چی زموږ دهیواد زیاتره لوی ښارونه اوکلی په کنډوالو بدل شوی دی ، ددین علومو دزده کړی اونورعلمی ثقافتی مرکزونه له منځه تللی دی او زموږ ډېری فرهنگی شتمنی له خاورو سره خاوری شوی دی.

ترچنگیز وروسته چی یې نیول شوی سیمی د زامنو ترمنځ ووېشل شوی زموږ هیواد دجغتای دواکمنی په قلمرو کی راغی . تومورېږی هم د خپل پلار په پله روان وو، دلوټمار، مرگ ژوبلی ، سوځولو اوړنگولو لړی یې هماغه شان جاری وساتله. ددی دوری په تاریخی آثارو کی هم ددینی علومو دزده کړی او نورو فرهنگی او ثقافتی مرکزونو دموجودیت په هکله دمعلوماتو څرك په ترسترگو کیږی.

البته وروسته بیا دچنگیز د زامنو اولمسیانو دتاړاکونو په مقابل کی زموږ دهیواد مسلمانو خلکو پا څونونه کړی اوپه دی بریالی شوی چی خپلواك حکومتونه تأسیس کړی په هغو کی یوهم په هرات کی دکرت دکورنی حکومت و چی تومبالی پاچاهان اوملوکان یې شمس الدین بن ابی بکر کرت (۱۲۴۵-۱۲۷۷م) ملك فخرالدین ، ملك غیاث الدین ، معزالدین حسین اوپیر علی غیاث الدین دی.

دغو امیرانو اوپاچهانو په خپل وخت کی له چنگیز او دهغه له اولادی څخه په پاتی کنډواله افغانستان کی ددینی علومو د زده کړی او نورو ثقافتی او فرهنگی مرکزونو دجوړولو له پاره دپادونی اوستاینی وړ هلی ځلی کړی دی . غیاثیه مدرسه ، دملك حسین کرت او ددینی زده کړو ځینی نور مرکزونه چی وروسته به په دی لیکنه کی دتاریخی اسنادو له مخی دروپېژندل شی، زموږ ددی خبری دیر ښه ثبوت کیدای شی.

خو داچی دغه واکمنان هم له یوی خواپه خپل منځی شخړو اخته وو اوله بلی خوا ورته دچنگیز له اولادی څخه کنډواله هیواد پاتی و لاپی فرهنگی اوثقافتی بنیادونه پوره نه وو ټینگ شوی چی زموږ پر هیواد دگوډ تیمور یرغلونه پیل شول. دغو یرغلونو ټول ثقافتی ، فرهنگی اومادی بنیادونه ونړول او افغانستان یې بیا په کنډواله بدل کړ.

دیادونی وړ ده چی دگوډتیمور زامنو اولمسیانو بیا دهغه لاره تعقیب نه کړه او دتیمور پرخلاف یې زموږ په هیواد کی دین ،ثقافت اوفرهنگ ته په زړه پوری خدمتونه وکړل چی دلته دیوه ځانگړی سرلیك لاندی دهغو دتلپاتی کارنامو یادونه کوو:

دهرات دتیموریانو عصر (۷۷۱-۹۰۶ هجری):

تیموریان په افغانستان کی دکرتانو دواکمنی له راسکوریدو څخه وروسته قدرت ته ورسېدل. ددغی کورنی بنسټگر امیر تیمور ؤ چی په تاریخ کی په گوډ تیمور باندی مشهور دی. ډېر ظالم اوبی رحمه سړی ؤ . دتیمور له مرگ څخه وروسته دهغه زوی شاهرخ میرزا چی دپلار دواکمنی په وخت کی دوولس کاله دهرات اوخراسان دځینو سیمو والی و، پاچاشو. تومورېږی دپلار پرخلاف ډېر نرم زړی اوعلم پالونکی سړی ؤ. له سمرقند څخه یې پایتخت هرات ته نقل کړ. او دتیمور له خوا په کنډواله بدل شوی افغانستان په ثقافتی ، فرهنگی او مادی رغاونه یې پیل وکړ اوپوداسی مدنیت یې رامینځ ته کړ چی نه یوازی زموږ دهیواد په تاریخ کی بلکی په نورو اسلامی هیوادونوکی یې هم ساری نه لیدل کیږی .

زیات شمیر دینی مدرسی اوخانقاوی یې جوړی کړی، عالمان ادیبان ، خطاطان او رسامان یې په خپل دربار کی راټول کړل. یوه لویه کتابخانه یې جوړه کړه او دعالمانو اوطالبانو داستفادی له پاره یې وقف کړه. دالاره دده زامنو اولمسیانو هم تعقیب کړه او دعلم ،فرهنگ دودی او پرمختیا له پاره یې دیادونی اوستاینی وړخدمتونه وکړل. ددی دوری په نامتو عالمانو اوپوهانو کی دامیر علیشیر نوایی ، کمال الدین حسین واعظ کاشفی ، سیف الملة والدین احمد تفتازانی ، مولانا عبدالرحمٰن جامی دځانگړی یادونی وړ دی. دهرات دتیموریانو عصر په تاریخ کی داروپا دانسانس له دوری سره په یووخت کی و ، دځینو مؤرخینو په قول به دغه وخت کی زموږ دهیواد مدنیت اوفرهنگ ددوری پرمختیا اوپراختیا له مخی له اروپا سره سیالی کولی شوه.

ددینی علومو دزده کړی دمرکزونو په برخه کی مور ددغی دوری د یوزیات شمیر مدرسو او فرهنگی مرکزونو په هکله دتاریخی اسناد وله مخی معلومات تر لاسه کړی چی دهغو له مخی دغه مرکزونه درپیژنو:

دگوهر شاد مدرسه :

ددغی مدرسی بنسټ په ۸۲۰ هجری کال دمیرزاشاه رخ میرمنی گوهرشاد له خوا اېښودل شوی دی ، او دجوړولو کارېی په ۲۱ کلونو کی ۸۴۲ سرته رسېدلی دی، دغی مدرسی ته به یې دمهد علیا مدرسه هم ویله او وروسته بیا د«المغره» په نوم ونومول شوه . ددی مدرسی د ودانی ځینی نښی نښانی دهرات دښار په لویدیځو برخو کی اوس هم لیدل کیږی.

وایی چی گوهر شاد ددی مدرسی له پاره ډېری زراعتی ځمکی او باغونه او ژرندی وقف کړی وي، په مدرسه کی زیات شمیر طالبان په زده کړه بوخت او دوخت دسترو دینی عالمانو له خوا ورته تدریس کېده، چی دمشهورو علماو څخه دشیخ شهاب الدین بسطامی اومولانای اعظم شمس الدین محمد بن اوحد نومونه یادولی شو، دی مدرسی یوه لویه کتابخانه ، لیلیه ، روغتون اومسافرخانه هم درلودل. دا مدرسه دبابر تروخته پوری هم ددین پوهی د زده کړی له ډېرو مشهورو مرکزونو څخه وه ، تومورېږی په خپل اثر توزك بابری کی ددی مدرسی یادونه اوستاینه کوی. مؤرخین برسیره پردی مدرسی دهرات په ښار کی دیو جامع جوماتِ اولویی خانقا اودهرات په لویدیځ انجیل سیمه کی دیوې بلی مدرسی یادونه هم کوی چی دگوهرشاد په امر اولوښتنه جوړه شوی ده(۱)

سلطانی مدرسه :

دغه مدرسه په ۸۹۸ هجری کال په هرات کی دسلطان حسین بایقرا په امر جوړه شوی وه، دغی مدرسی یوه خانقاه هم درلوده چی ددینی علومو د زده کړی لوی مرکز و.

د«خلاصة الخبار» مؤلف ددغی مدرسی اوخانقاه دمدرسینو په هکله لیکی چی په دی مدرسه کی ډېر طالبان ددینی علومو په زده کړه بوخت وو داتو تنو سترو دینی علماوو له خوا ورته دینی علوم تدریس کېدل برسیره پردی دوخت نامتو عالم مولانا کمال الدین حسین واعظ به په اوونی کی یوځل مدرسی ته تشریف راوړ له پند اونصیحت نه ډکی ویناوی به یې کولی.

ددی مدرسی په نامتو مدرسینو کی مولانا عبدالرحمٰن جامی اوسیف الملة والدین احمد تفتازانی هم شامل وو.(۲)

اخلاصیه مدرسه اوخانقاه:

دغه دینی مدرسه دسلطان حسین بایقرا ددربار مشهور اونومیالی وزیر امیر علیشیر نوایی جوړه کړی وه، مؤرخین وایی چی دغه نومیالی وزیر دټول خراسان په مربوطاتو کی د(۳۷۰) لوی وړو جوماتونو مدرسو اوخانقاو بنسټ اېښوودونکی و . د«خلاصة الخبار» دمؤلف په قول د دغه مدرسه یې له دی امله اخلاصیه ونوموله چی په ډېره خاصه پاملرنه او اخلاص یې جوړه کړی وه . دوخت لوی لوی عالمان پکی په تدریس گومارل شوی وو ، زده کوونکو ته پکی د زده کړی ډېر سهولتونه برابر وو ، ددی مدرسی دومره برکت و چی په ډېر کم وخت کی به پکی طالبان دعلم او پوهی لوړی درجی ته رسېدل (۳)

امیر علی شیرنوایی په خپل تالیف کړی کتاب «مجالس النفایس» کی بخپله وقفنامه کی دیوی بلی مدرسی یادونه هم کوی، تومورېږی وایی چی سلطان حسین بایقراً په ۸۸۰ هجری قمری کال دکوشك مرغاب په مربوطاتو کی یوځه ځمکه راکړه چی ماپکی اویاغچه پکی جوړه کړم . سلطان ټول لوازم راته برابر کړل. ماپه ډېرش حرسه ځمکه کی سرای اوباغچه جوړه کړه خو ددی ترڅنگ می یو لوی ښکلی جومات او مدرسه هم جوړ کړل چی یو دارالحفاظ هم پکی و . په مدرسه کی می دوه تنه مدرسین مقرر کړل چی یوی دفقهی اصول اوفروع اوبل یې دحدیثو تدریس وکړی. دوه درسی حلقی می پکی جوړی کړی چی په هره حلقه کی به یوولس تنه طالبان زده کړه کوی. دمدرسی ترڅنگ می یوه لویه خانقاه هم جوړه کړه .(۴)

دارالسیاده سلطانی:

دا ودانی دتیموری پاچا دسلطان حسین بایقراً په وخت کی هرات کی جوړه شوی وه . په دغه ودانی کی به درویشانو برسیره فقراء اومساکین هم اوسېدل. وخت په وخت به یې پکی د پند اونصیحت نه ډکی ویناوی کولی، دینی عرفانی مجلسونه اوبحثی به کېدلی. «خلاصة الخبار» وایی چی د وخت پاچا ددی مرکز سرپرستی مولانا عبدالجلیل ته سپارلی وه ، برسیره پردی د وخت نومیالی عالمان لکه کمال الدین حسین بن علی بیهقی هروی واعظ کاشفی به دغلته دهری جمعی په ورځ له پند اونصیحت نه ډکی ویناوی کولی. (۵)

نور بیا

دننګرهار داچين په ولسوالي کي زړه بدي اواره شوه

دننګرهار ولايت له جلال آباد څخه زموږ خبريال خبر راکوي چي له شپږو مياشتو څخه راپديخوا داچين دولسوالی د حيدرخېلو، رحيم داد خېلو اوبابر خېلو قامونو ترمنځ په يوه ځمکه شخړه دي حدته رسيدلي وه چي څوځلي يې ترمنځ جګړي شوي او دوارو خواوته درانده تاوانونه رسيدلي دي.

که څه هم داتمه کېده چي په دي موده کي به دننګرهار جهادي شوري ددوی ترمنځ لانجه ختمه کړي، خو نه يوازي يې ختمه يې نه کړه بلکي له هرلوري سره به يې مرستي هم کولي، خو کله چي په ننګرهار کي اسلامي تحريک قدرت ترلاسه کړ، نو په سيمه کي د دادمن ژوند په خاطر يې داچين ولسوال محترم مولوي غلام نبي هاشمي ددوارو اړخونو مشران راوغوښتل تر څو دخبرو له لاري مسئله حل کړي.

خبريال زياتوي چي دولسوال خبرو اونصيحتونو څه فايده ونه کړه ، نو ولسوال مجبورشو له دوارو خواو څخه لس تنه مشران بنديان کړي چي درحيمداد خېلو ملک نياز اوشاه محمود اوحيدر خېلو ملک برات خان اوښکي هم پکي شامل دي ، چي ددغو کسانو په بنديانولو سره ددغو قامونو ترمنځ شخړه په غوڅه توګه له منځه ولاړه او اوس دغي سيمي اوسيدونکي په ډاډه زړه خپل ژوند ته دوام ورکوي.

دکندهار د ښار د دوراهي او هوايي ډګر ترمنځ سړک ترميم شو

له کندهار څخه زموږ خبريال خبر راکوي چي دکندهار دښار ددوراهي اودکندهاردهوايي ډګر ترمنځ سړک دترميم کار چي څه موده مخکي داکلو دموسسي په مرسته پيل شوی و پای ته ورسيد.

په دي مناسبت دښار والي دمسئولينو او دبهرنيو خيريه مؤسسو دمسئولينو په ګډون يوه غونډه جوړه شوه چي پکي دکندهار دښاروالي مرستيال محترم ملاجمع ګل اخند هم پکي برخه اخيستې وه.

په غونډه کي داکلو دمؤسسي نماينده انجنير عصمت الله دلارو او سړکونو پراهميت رڼا واچوله زياته يې کړه چي موږ دخپلو اجراتو په نتيجه کي وکولای شول چي دکندهار دښار ددوراهي او دهوايي ډګر ترمنځ سړک ترميم کړو.

د مراسمو په پای کي دکندهار دښاروالي مسئولينو دخيريه مؤسساتو له اجراتو څخه مننه وکړه او دوطن دابادۍ په چارو کي يې ددوی دلازياتو هلو ځلو غوښتنه وکړه.

روسان بيا غواړي چي زموږ هيواد دوبير اوماتم په څپوکي لاهو کړي

له لويي پکتيا څخه زموږ خبريال خبر راکوي چي دپکتيا ، پکتيکا اوخوست دبيلو بيلو ولسواليو يوزيات شمير طالبان اوپخواني مجاهدين دهيواد په تيره بيا کابل ددفاع لپاره کابل ته ولاړل.خبريال وايي دهيواد دحالاتو له په پام کي نيولو سره دپکتيا مشهور قوماندان الحاج مولوي جلال الدين حقاني دلويي پکتيا پرمسلمانو اوديندارو خلکو غږ وکړ چي دتاريخي مسئوليت له مخي دهيواد دنجات لپاره کابل ته دتللو لپاره تيارشي.خبريال زياتوي په داسي حال کي چي په دين او وطن مين افغانان دهيواد له ملي حاکميت اوملي يووالي سره زښته زياته مينه لري، نو دلوي پکتيا خلک هم دمحترم مولوي جلال الدين حقاني دغوښتني له مخي ځکه کابل ته ولاړل چي دکابل دپرزيدلي اداري له بګيل شويو قوتونو سره يوځل بيا دافغانستان پخواني تاريخي دښمن روس علني مرستي پيل کړي او روسان بيا غواړي چي زموږ هيواد دوبير اوماتم په څپو کي لاهو کړي

په خوګيانو کي دطالبانو په ملاتړ ...

... سيمه خلکو علماء، کرامو، مشرانو، سپين ږيرو اوقوماندانانو لخوا د طالبانو داسلامي تحريک سره دملاتړ په خاطر يوه درنده غونډه جوړه شوه.

خبريال ليکي غونډه دسهار په ۹ بجو د قاري عبدالواحد لخوا دقرآن کريم دځو مبارکو آيتونو په تلاوت پيل ورپسي دغونډي برخوالو ته مولوي صاحب شمس الحق په زړه پوري خبري وکړي اويه يوه برخه کي يې وويل: « طالبانو په افغانستان کي شريعت نافذ کړي سوله اوامن يې راوستي نوپکار دي چي موږ په پوره صدق او ديانت ورسره همکاري وکړو»

له هغه وروسته قاضي هدايت دخپلو خبرو په يوه برخه کي زياته کړه : « اوس چي په افغانستان کي دافغانستان د ريښتنو بچيانو طالبانو لخوا شريعت نافذ شوي دونيا کفار، فساق، اوبې دينه خلک لګيا دي داسلام ضد تبليغ کوي او کوښښ کوي چي دطالبانو په وړاندي مشکلات راپيداکړي ، نوموږ اوتاسو ته پکار دي چي په دي هکله بې تفاوته پاته نشو اوله خپلو طالبانو نوسره په ټولو برنامو کي بشپړه مرسته وکړو».

بيا مولوي صاحب عبدالستار په خپل وار دخپلو خبرو په يوه برخه کي دغونډي برخوالوته وويل: « دطالبانو په لاس دنجيب اعدام يو پرځاي عمل دي او دده پر اعدام زموږ دمجاهد ملت دلکونو شهيدانو حق پرځاي شو».

غونډي ته دننګرهار ولايت محترم والي مولوي صاحب محمد کبير او ورسره ملګرو د وارسيدو په وخت (دبرخوالو دتکبيرونو زمزمي).

ورپسي دمولوي صاحب محمد عثمان لخوا دغونډي برخوالوته خپل درانده ميلمانه ورو پېژندل شول.

بيا دغونډي په دوام کي دقاري صاحب عبدالقادر لخوا دقرآن کريم دځو مبارکو آيتونو په تلاوت غونډه نوره هم منوره شوه.

له هغه وروسته دغونډي ناظم خپلو ميلمنو ته دخوګيانو دديندوستو اومجاهدو دتير جهاد او دطالبانو د اسلامي تحريک په ليکو کي دخدمت لنډ تاريخ وړاندي او ورته يې راغلاست وويل شو. او له خپل اسلامي تحريک او اسلامي حکومت سره بشپړ ملاتړ اعلان او دهر ډول مرستي ژمنه وشوه.

ورپسي دننګرهار محترم والي صاحب مولوي محمد کبير دغونډي برخوالوته په زړه پوري خبري وکړي او دخبرو په يوه برخه کي يې وويل: «دهر باطل، هرمنکر او هر لاروکي پر وړاندي جهاد روا او داسلام ددين د روښانه ساتلو دپاره ضروره عمل دي». ده وړاندي وويل: جهاد چي دکفر په وړاندي جواز اودخداي «ج» دامر په ځاي کول دي دغه رنګه دلاروکيو مفسدينو اوپاټکيانو چي دخلکو سر ، مال ، ناموس اوعزت ترينه خوندي نوي بلکي دځان دپاره دغه عمل روا بولي هم پرځاي او روا عمل دي (دبرخوالو دتکبيرونو زمزمي) دغه رنګه جناب والي صاحب دخوګيانو خلکو ته وويل: تاسو يوازي دطالبانو داسلامي تحريک له استقبالولو خپل حق نه اداکولي داسي خبره ده چي تحريک طالبانو ته منسوب دي ځکه چي طالبانو پيل کړي او وده يې ورکړي خو داستاسو خپل تحريک دي دخوګيانو ټول مسلمانان اوټيک قوماندانان زموږ وروڼه دي او دطالبانو اسلامي تحريک ستاسو خپل تحريک دي او دتحريک دروازي ستاسو پرمخ خلاصي دي .(دبرخوالو احساسات)

دننګرهار والي صاحب دخپلو خبرو په يوه بله برخه کي وويل:« دلوګر مسلمانو اودين دوستو خلکو له موږ سره پوره پوره همکاري کوله چي تراوسه دښمن هلته په کوم ډول تخريب کاري برياليي نشو دخلکو د سرمال اوشتمني هرڅه مامون دي».

خو دشمالي خلکو دمسعود دبدو تبليغاتو ته بده فايده واخسته اوپرطالبانو يې غلچکي بريدونه وکړل اوزموږ پاک طالبان يې شهيدان کړل نو بيا دخپلو اعمالو په سبب دطالبانو لخوا هم ښه وټکول شول (دبرخوالو دتکبيرزمزمي)

دغه راز که دننګرهار خلکو دطالبانو اسلامي تحريک سم استقبال کړ خو دحصارت په سيمه کي يې دوي شپي او ورځي دتحريک دوړاندي تلو په لار کي سخت مقاومت هم وکړ ولي موږ به دکم شمير بدو خلکو په بدو عملونو په نېک خلک ککړ نه بولو.

والي صاحب وړاندي وويل: دننګرهار دخوګيانو له مجاهدو خلو څخه غوښتنه داده چي مخلصين په خپل اخلاص کي وړاندي تله وکړي و تخريبکارو ته اجازه ورنه کړي چي په سيمه کي وضع خرابه کړي. (دبرخوالو احساسات)

او دمحترم والي صاحب دخبرو پاي ورپسي دپکتيکا والي صاحب مولوي عبدالباقي (حقاني) دغونډي په وړاندي وويل:

څرنګه چي حضرت پيغمبر «صلي الله عليه وسلم» وروستني پيغمبر دي او دنبوت سلسله ختمه ده نو دغه ددين رسولو سلسله علماء، کرامو ته په ميراث پاته ده تر څو ترقيامته دين روښانه وساتي او دخداي «ج» ددين اشاعت وکړي اودخداي «ج» دين په خلکو کي خپور کړي له باطل سره مقابله، مجادله او جهاد وکړي (دبرخوالو تکبيرونه)

له هغه وروسته دننګرهار دمحاکماتورئيس جناب محترم مولوي صاحب محمد يوسف غونډي ته د لنډو خبرو په يوه برخه کي وويل: دهيواد اسلامي اداره دخپلو هيوادوالو مرستوته ضرورت لري په تاسو لازم دي چي له خپلي اسلامي اداري سره پوره پوره مرسته وکړي اوپه دعا سره يې غونډه پاي ته ورسوله .

دغه راز دماسپښين له لمانځه وروسته دننګرهار والي دخوګيانو علماء، کرامو ، سپين ږيرو ، مشرانو اوقوماندانانو مشکلات ښه په ورين تندي واوريدل.

او دخوګيانو علماء، کرامو ، طالبانو، مشرانو ، سپين ږيرو او قوماندانانو خپل مشرسره دهر ډول مرستو وعده او ژمنه وکړه.

اووي ويل: موږ به داسلام په اصولو کي دننه دخپل اسلامي دولت هر ډول مرسته کوو ...

در محلاتيكه طالبان حاكميت اسلامي را تأسيس نموده اند به جنگ خاتمه داده شده است

ستانکزي

سرپرست ومعاون وزارت خارجه با مسئول مؤسسه AiR ملاقات نموده و در مورد فعاليت هاي مؤسسه مذكور گفت وشنود صورت گرفت.

مسئول مؤسسه مذكور گفت كه اين مؤسسه درسال آينده به مردم افغانستان درجهت كمك هاي بيشتر تجديد نظر ميكنند.

سپس محترم ستانكزي ضمن قدرداني از زحمات مؤسسات خارجي در اعمار وآبادي افغانستان به عموم مؤسسات اطمينان داد كه دولت اسلامي افغانستان هميشه حاضر به هر نوع همكاري ميباشد(وي در بخش از سخنان خود وضع كشور بخصوص شهر كابل را بعداز ورود تحريك طالبان بدين ترتيب تشريح نمود: اين كشور از تأسيس تا امروز درگير جنگها بوده ودر نتيجه اين جنگها كشور به ويرانه تبديل شده . هدف از تأسيس طالبان ختم جنگ وابادي كشور است چنانچه طي درطي سال گذشته درمحلاتيكه طالبان حاكميت اسلامي را تأسيس وتشكيل نموده اند به جنگ خاتمه داده شده ، پروگرام هاي انكشافي وابادي منطقه اغاز گرديده است.

په نړۍ خواره واره افغانان له اسلامي دولت سره خپل ملاتړ اعلانوي

دنړۍ په بيلو بيلو هيوادونو کي په افغانستان کي داسلامي نظام دټينګيدو اودپخواني بدنامي اداري دراپرزيدو دهر کلي له امله پراخي غونډي اومظاهري جريان لري

له جرمني څخه دباوري خبرله مخي سبا دمه شنبې په ورځ چي دميزان د برشمه نېټه کيږي په هغه هيواد کي اوسېدونکو افغانانو پخپل خواره هيواد افغانستان کي دظلم اوفساد دعاملينو دله منځه تللو او په هيواد کي دمسلمانان اومجاهد ملت په خوښه داسلامي نظام دټينګيدو له امله يوه پراخه مظاهره په پام کي نيولي ده.

دغه شان دامريکا په نيويارک ښار فرانسسکو اولاس اينجلس اوځينو نورو هيوادونو کي هم افغانان دخپلو غونډو اوجلسو په لړکي له اسلامي دولت سره دخپل ملاتړ اوهمکاري څرګندوني کوي.

ن. احمد «کروړ» شريعت اونيزي ته په راليږلي پيغام کي:

له ځوانانو څخه غوښتنه کوو چي له اسلام اووطن څخه دفاع وکړي

دافغانستان مشرانو ددي په ځاي چي په افغانستان کي اسلامي حکومت پلي کړي دخپلو ګوندي اوټولي ګټو د ترلاسه کولو دپاره يې خپل منځي جګړي پيل کړي دخلکو دسر ، مال او ناموس له خطر سره مخامخ شول. ددي ستونځو له امله دافغانستان مسلمان ملت ډېر وځورېده، په ځاي ددي چي خپلي موږنۍ خاوري ته بېرته راشي نو يې له کومه تکليفه ستون شي دخلکو دپېغورونو ګزارونه پري وشول.

همدا وجه وه چي په افغانستان کي دطالبانو اسلامي غورځنګ منځ ته راغي تر څو دافغانستان ددفاع او دبهرنيو دلاس وهنو مخنيوي وشي.

موږ له خپلو ځوانانو څخه غوښتنه کوو چي داسلام او وطن ددفاع په خاطر څه ناڅه قدم واخلي، ځکه چي وطن دتقسيمدو په حالت کي دي اوموږ نه غواړو چي افغانستان يو ځل بيا دخائنانو په لاس ورشي.

ددي سره سره موږ خپلو طالبانو ته ددي ډاډ ورکوو چي دوی يوازي نه دي بلکي دافغانستان ځوانان ددوی سره يوځاي داسلام د سر لوړي اودافغانستان ددفاع په خاطر هري قرباني ته تيار دي.

موږ دافغانستان ټولو محصلينو ته دا پيغام ورکول غواړو چي دوطن دبشپړي ساتني او دعلم د روښنايي دتيتولو په خاطر خپل اخلاقي او علمي فريضه په ښه شان سره ادا کړي دا به نه يوازي دوطن ، دملت ، بلکي ددوی دکورنيو دنيکمرغۍ سبب وګرځي.

په هر هيواد ...

ديندارو اوپه وطن مينو خلکو پراخه غونډه وکړه.

غونډه دعظيم الشان قران دځومبارکو آيتونو په تلاوت پيل شوه ورپسي دپيچ دولسوالي دمسلمانو خلکو په نمايندګي محترم مولوي عبدالسلام خپله عالمانه او هر اړخيزه وينا واوروله وي ويل: دکونړ خلک په عام ډول او دپيچ د ولسوالي مسلمان خلک په خاصه توګه داسلامي دولت داسلامي پروګرامونو غوځ ملاتړ کوي اوپه دي مقدسه لارکي هر ډول قرباني اوفداکاري ته تيار دي.

دمولوي عبدالسلام ترويڼا وروسته دنورګل دولسوالي دمسلمانو خلکو په نمايندګي محترم مولوي سميع الله پخپله عالمانه وينا کي دمخالفينو ناوړه تبليغات وغندل اودطالبانو داسلامي تحريک دفعاليتو اومنسوبينو حقانيت اوصداقت بيان کړ وي ويل: دطالبانو اسلامي تحريک وکړاي شول چي دخپلو رغنده او اسلامي پروګرامونو په عملي کولو سره دخلکو مال اوناموس له هر ډول ګواښ او تجاوز څخه مصئون کړي اوددي ترڅنګ په هيواد کي بشپړ امنيت راولي.

خبريال زياتوي چي دبوشمير علماو اوقامي مشرانو تروينا وروسته دکونړ والي محترم مولوي عبدالهادي ترحمد اوثنا وروسته حاضرينو ته وويل: دطالبانو داسلامي تحريک هدف اومرام دادي چي دڅوارلس کلن جهاد اهداف اوثمره ترلاسه شي هغه ظلم اوفساد پاي ته ورسول شي چي دجهاد تر بري وروسته په هيواد کي د ورځي عادت ګرځيدلي دي.

ده وويل: طالبان دجهاد تر بري وروسته بيرته خپلو مدرسو اوجوماتونوته ستانه شول، خو چي وي ليدل يو ځل بيا په هيواد کي ظلم اوفساد دمسلمانو خلکو ژوند تهديدوي نو مجبور شول چي له مدرسو او جوماتونو څخه راووزي او دادي تاسو وليدل چي دظلم اوفساد عاملين څنګه يو په بل پسي له منځه ولاړل.

دکونړ والي وويل: په هره سيمه او هرهيواد کي امنيت او استقرار دترقي اوپرمختګ لومړني شرط دي او دغه هدف هغه وخت ترلاسه کيداي شي چي په خلکو کي وېشل شوي وسلې بيت المال ته وسپارل شي ځکه وسله ده چي دخلکو ژوند تهديدوي او دوسلې خاوند په بې وسلې خلکو باندي خپل نظر په زور مني نو کله چي دغه دانسانيت دښمن يعني وسله ټوله شي نو بيا موږ کولای شو په پوره ډاډ دامنيت په فضا کي ژوند وکړو . نو له تاسو مسلمانو خلکو څخه زما غوښتنه داده چي خپلي وسلې بيت المال ته وسپارئ، ترڅو پخپل ژوند کي له مشکلاتو سره مخامخ نه شئ.

دکونړ والي وويل: ځنګلونه اوبوټي دمحيط دککړتيا په مخنيوي او انساني ژوند کي زښت ډېر ارزښت لري ، نو له تاسو ټولو څخه زما غوښتنه داده چي دځنګلونو له وهلو اوله منځه وړلو څخه ډډه وکړئ، ځوکه چيري بيا هم څوک دځنګلونو په وهلو او دونو اوبوټو له منځه وړلو ولېدل شو نو داسلامي شريعت له مخي به سخته جزا ورکړل شي.

غونډه دمحترم پير مهراب الدين په اختتاميه وينا پاي ته ورسيده اودګران هيواد دارامي اوسوکالي لپاره دوعا وشوه.

افغانستان خانه مشترك افغانها است

ملت مجاهد ومومن افغانستان در طول تاريخ با مشكلات گوناگون مواجه گرديده كه در اوقات مختلفه از طرف دشمنان اسلام اين ميهن غزوة وشهداء زير حيل و نيرنگهاي متنوع مورد تجاوز وسؤ قصد قرار گرفته ولي به فضل خداوند در هر مرحله اين تجاوز از طرف اقوام برادر اين مرزوبوم اعم از تاجك، ازبك ، هزاره ، تركمن ، پښتون وغيره افغانستان را خانه مشترك خود خوانده ودر مقابل دشمن از وطن خود منصفانه ومتحدانه دفاع نموده كه قيام عمومي واسلامي در مقابل انگليس وروسها نمونه بارز انها است اين اقوام برادر دربين خود همراه يكديگر چنان مرتبط گرديده كه مانند اعضاي يك جسد از يك ديگر جدا شدني نيست ودين اسلام اين پيوندها را استحكام بخشيده وان را جاوداني ساخته اند وهيچ كسي قادر نخواهد بود كه در بين آنها رخنه نمايد ليكن از بخت بدشمنان اسلام بخاطر حمايت منافع شخص وگروهي به تبليغات زهراگين دست زده وميخواهد كه اين روابط ناگسستني را قطع وبه منافع شومي خود دست يابد وبااين ترتيب به همه ملت خود ثابت ساخت كه منافع ملي، اسلامي ومصلحت علياي كشور بران اين مفسدان قابل ارزش نيستندوحاضر است كه مملكت خود را براي منافع شخصي وگروهي به تجزيه بكشاند ممكن خوشبختانه ملت مسلمان ما باين هدف شوم انان پي برده ودوست را از دشمن تميز كرده ميتواند كه در زمينه به قضاوت بپردازد مايه قضاوت ملت مؤمن خود يقين واطمينان كامل داريم كه عنقريب مفسدين را از خاك مقدس خود خارج خواهد ساخت در تحريك طالبان حقوق اسلامي همه اقوام وقبايل محفوظ بوده.

وظايف به أهل كار سپرده مي شود وهمه افغانان بدون امتياز كوچك در وطن ومسكن اباي خود به زندگي خود ادامه داده وزمينه براي فعاليت آنها در چوكات اسلامي مهيا خواهد شد وبايد خاطر نشان سازيم كه در افغانستان حكومت كردن منحصر به يك قوم ويك قشر نيست بلكه همه افغانان به اساس لياقت كفايت واسلاميت ، قوت واستعداد خود ميتواند در آن سهيم باشد وتحريك اسلامي طالبان امنيت را به وجه احسن در اكثر نقاط وطن تأمين كرده وقريب است كه اين امنيت در سراسر كشور گسترش يابد وهمچنان تحريك اسلامي طالبان از فرزندان اصيل اين مرز وبوم ميخواهد كه به وطن خود مراجعه كرده وبه اندازه توان واستعداد خود در شگوفاني ، ابادي وعمران ميهن خود سهم بگرند اغوش اين قشر اسلام درست به همه افغانان خصوصاً مؤمن وصادق هميشه باز بود .

ومن الله التوفيق

دجمعيت العلماء اسلام امير مولانا فضل الرحمن ...

يوه مهمه تاريخي پېښه ده .

ده وويل: موږ دکمونستي رژيم اوپه افغانستان کي دپخواني شوروي اتحاد ديرغلګرو پرخلاف له افغان مجاهدينو سره اوږه په اوږه برخه اخيستي ده اودافغانستان په تاريخي بري کي زموږ برخه هم ځانګړي ځاي لري .

مولانا فضل الرحمن وويل : په افغانستان کي دکمونستي رژيم تر را پرزيدو او دمجاهدينو تربرياليتوب وروسته چي جهادي ډلي پخپلو کي سره لاس او ګريوان شوي. نو موږ ډېر کوښښ وکړو چي جهادي قوتونه پخپلو کي يوموټي اومتحد کړو تر څو دجهاد اهدافو او دافغانانو قربانيو ته زيان ونه رسيږي، خو له بده مرغه دغو ځينو جهادي ګوندونو له جهاد او دجهاد له شهيدانو سره سخته جفا وکړه .

ده زياته کړه : کله چي په ټول افغانستان کي بې امني اوناقراري خپل وروستي حدته ورسيده او دافغانستان مسلمان خلک له جهادي ګوندونو اوقوماندانانو څخه پوره تنګ راغلل نو دملت له منځ څخه طالبان راپورته شول دامنيت دتأمين اواسلامي شريعت دتنفاذ لپاره يې هلي ځلي پيل کړي چي دلوي خداي «ج» په مرسته او دافغان مسلمان ملت په ملاتړ يې په لنډه موده کي زيات برياليتوبونه ترلاسه کړل ، چيرته چي ورسيدل هلته امنيت تأمين او دخلکو سر اومال يې له هر ډول ګواښ څخه خوندي کړل.

ده وويل: جمعيت العلماء اسلام دطالبانو داسلامي تحريک اويه افغانستان کي دموجوده اسلامي حکومت ټينګه مرسته کوي، دهغوي برياليتوب له خدايه غواړي او دهغوي اسلام دښمنه عناصرو سخته غندنه کوي چي ددي اسلامي تحريک پرخلاف پروپاګند کوي.

ده زياته کړه : له پنځو سوو کلونو څخه وروسته په افغانستان کي دلومړي ځل لپاره داسي يو حکومت منځ ته راغلي دي چي سل په سلو کي دپاکستان دخلکو اوحکومت دوست دي . روس ، هند اوايران دکابل د راپرزيدلي اداري پلويان دي او غواړي چي هغه بدنامه اداره يوځل بيا قدرت ته ورسوي چي وايي دافغانستان په کورنيو چارو کي سخته لاس وهنه وبلله .

ده له ملګرو ملتونو څخه وغوښتل چي دطالبانو له خوا په افغانستان کي جوړ شوي اسلامي حکومت دي په رسميت وپيژني ، په هغه مؤسسه کي دي دطالبانو نماينده ومني او په دي توګه دي ددغه اسلامي حکومت په ټينګښت کي مرسته وکړي.

غونډي ته محترم قاضي فضل الله «ايډوکيټ » هم وينا وکړه اويه دي ترتيب دغه درنده اوپرتمينه غونډه په افغانستان کي دامن اواستقرار په دوعا پاي ته ورسيده .

رباني د تاجکستان ...

تلونکو (٤٠٠) مجاهدينو څخه يې دبدخشان په سيمه کيني وسلې واخيستلي ، دغه قوماندان « نجم الدين «واثق» نه تنها چي له هغوی نه ئې وسلې واخيستلي بلکي هغوی يې خپل هيواد ته هم پري نه ښودل.

اوتاجک مجاهدينو مشر قوماندان عبدالله «نوري» ته احمد شاه مسعود له بدخشان څخه د وتلو وينا هم کړي ده.

داڅرګنده ده چي رباني مسعود ، دروس اوتاجکستان دحمايت ترلاسه کولو هڅي کوي اويه دي اړوند يې په تيرو ورځو کښي نوموړي قوماندان نجم الدين واثق دتاجکستان دوره هم کړي اودتاجکستان دمجاهدينو په ضد يې دتاجکستان له حکومت سره تړون لاس ليک کړي ځکه يې دا دجهاد ضد عمل ترسره کړي دی.

دکندهار دشيرزي ناحيي امنيتي ځواکونو دوه تنه غله ونيول:

له کندهار څخه زموږ خبريال خبر راکوي چي دهغه ښار دشيرزي ناحيي امنيتي ځواکونو دوه تنه غله په داسي حال کي ونيول چي له مسلمانو ښاريانو څخه يې ددوی مالونه غلا کول.

همدارنګه زموږ ځانګړی خبريال خبر راکوي چي دګرشک په اوه کي يو بل غل چي ديو چاله کور څخه ... ګلور ميليونه افغاني غلا کړي وي پر لاس په لاس ونيول شو ، غله امني قوماندانۍ ته تسليم شوي ترڅو داسلامي قوانينو په رڼاکي لازمه جزا ورکړل شي.

تحريك اسلامي طالبان ...

نظام اسلامي در كشور ميباشد.

محترم ستانكزي اظهار داشت: رسانه هاي گروهي غرب تلاش دارد تا واقعيت هاي عيني جامعه اسلامي ما را غلط جلوه دهند در حاليكه قسمت اعظم كشور جنگ زده افغانستان كه در تحت تسلط تحريك طالبان بوده نظم ، امنيت وصلح تأمين بوده وهيچ نوع تخطي ازحقوق بشر صورت نگرفته است.

ستانكزي در مورد مداخلات بيشرمانه كشور هاي خارجي كه آتش جنگ در كشور ما تشديد ميدارند توضيحات لازم ارائه داشته ودر امور داخلي افغانها هر نوع مداخلات خارجي را تقبيح نمودند.

په المان کي ...

مرستي ورکړي او ورکوي يې مظاهره کوونکي دايران دسفارت مخي ته ورغلل اوهغوي ته يې يو احتجاج ليک ورکړ چي ايران دي دافغانستان په داخلي مسئلو کيني نوره لاس وهنه نه کوي دوي دملګرو ملتونو سازمان ته هم خپل احتجاج ليک ورکړ چي دطالبانو په خلاف دي جګړه بنده کړي.

دکابل ښاريانو ...

دولت په رسميت وپيژني » شعارونه يې وکړل په کابل کي دايران سفارت په وړاندي اوپه کابل کي دملګرو ملتونو دمؤسسي دفتر مخي ته راغونډ شول.

په غونډه کي ويناوالو دهند، روسيي اوايران هيوادونو څخه وغوښتل چي داسلامي دشريعت پربنياد اودښه ګاونډيتوب اودنړيوالو اصولو او اساساتو پراساس دافغانستان اسلامي دولت سره چلند وکړي دغه راز ويناوالو له ملګرو ملتو اونړيوالو هيوادونو څخه وغوښتل چي دافغانستان مجاهد اومسلمان ولس ته حق ورکړي چي خپلي ستونزي داسلامي شريعت له لاري حل کړي اودافغانستان په کورنيو چارو کي دمعلوم الحالو هيوادونو لاس وهني محکومي کړي.

ويناوالو په پاي کي دکابل دښاريانو له خوا يو پريکړه په کابل کي دايران داسلامي جمهوريت سفارت اودغه راز دملګرو ملتونو دمؤسسي دفتر ته وسپاره . په پريکړه ليک کي ويل شوي دي: له دي امله چي دافغانستان دطالبانو اسلامي تحريک دشراوفساد ، چور اوچپاول له منځه يوړل اوډاډمن ژوند شرايط ئې برابر کړل نو په دي اساس موږ ، دکابل ښاريان ددغه تحريک ملاتړ کوو او له خپل اسلامي دولت سره هر ډول همکاري ته چمتو يو.

اطلاعيه رياست گمركات

تمام اموال وارداتي وصادراتي تابع مقررات گمركي مي باشد بناءً از تمام تاجران محترم ملي تقاضا بعمل مي آيد تاحين واردات وصادرات اموال خويش را بعدازطي مراحل گمرك وتكميل اسناد قانوني انتقال دهد در غير آن مجاز نمي باشد وبازپرس قانوني صورت مي گيرد. مسئولين بنادر كنترولي گمرك در دو محل شاهراه لين هاي غرب وشرق در اين زمينه آماده همكاري وخدمتگذاري بيست وچهار ساعته مي باشد.

يادونه

شايي ستاسو ايمان به اجازه درنکړي چي دا ډول سپېڅلي پاڼي په ناوړو ځايونو کيږدئ وغورځوئ.

(اداره)

دګډون بيه	شپږ مياشتني	کالني
پاکستان	Rs.200	Rs.400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا وامريکا	US$75	US$150

SHARIAT WEEKLY
Editor-in-Chief : Molvi Ahmad Jan.
PAK-RUPE A/C; CD. No 1694-69
Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch
Peshawar Pakistan